دوهم کال
7

د افغانستان اسلامي امارت
د کانونو او پټرولیم وزارت

معادن

مجله

په دغه گڼه کې

- د کانونو او پټرولیم وزیر د ټاپې پروژې له رئیس سره وکتل.
- د خوست ولایت د سرو زرو کان ترول لاسلیک شو.
- بررسی مقدماتی منابع فاسفیت رسوبی(فاسفرینت) در ترسبات بحری عصر سینوزوئیک نواحی چمتال ولایت بلخ.
-له خصوصي برخو سره د کانونو او پټرولیم وزارت د مرستو په اړه د وزارت د پالیسي او برنامو مرستیال سره مرکه.
-نقش معادن در اقتصاد افغانستان.



دوهیمه دوره: اوومه گڼه
۱۴۰۵ هـ ل، دوهیمه ربع: غبرګولی، چنګاښ، زمری

بسم الله الرحمن الرحیم

د کانونو او پټرولیم وزارت

د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

د مجلې چاپ

دوېیمه دوره: اوومه ګڼه

د امتیاز خښتن: د کانونو او پټرولیم وزارت

ترتیب کوونکی: د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

مسوول مدیر: احمد میلاد "ستانکزی"

ډیزاینر: مطیع الله "سحر احمدزی"

چاپ کال: ۱۴۰۵، زمري میاشت

دوېیمه دوره: اوومه ګڼه، کال ۱۴۰۵ هـ ل

ټوک شمېر: ۷۰۰

د شکایتونو اورېدلو شمېره

۱۸۱

د مکروریان څلور لارې، کابل، افغانستان

follow us

www.momp.gov.af @MoMPMinistryAFG

MoMPAfghanistan @MoMP-Afghanistan

لړلیک/فهرست مخ

سرلیک:.....الف

خبرونه:.....۱

شعار :.....۱۱

بررسی مقدماتی منابع فاسفیت رسوبی(فاسفریت) در ترسبات بحری عصر سینوزوئیک نواحی چمتال ولایت بلخ :...۱۲

له خصوصي برخو سره د کانونو او پټرولیم وزارت د مرستو په اړه د وزارت د پالیسي او برنامو مرستیال شیخ الحدیث عبدالرحمن قانت سره مرکه:.....۱۸

نقش معادن در اقتصاد افغانستان :.....۲۰

د مس عینک پروژې د فرصتونو او پرمختګونو په اړه د مس عینک له رئیس سره مرکه :.....۲۴

میراث پوهنه؛ جامع او اسانه لارښود :.....۲۶

کرومایت و معادن آن در افغانستان :.....۳۳

معرفی ریاست انستیتوت معادن :.....۳۵

معرفی زندگی نامه سرجیولوجست ذغال سنگ انجنیر زمان الدین «رحیمی» :.....۳۸

د زرشویی د امورو د تنظیم په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی فرمان :.....۳۹

انفوګرافیکونه :.....۴۱

یادونه: د مضمونونو او مقالو مسوولیت د درنو لیکوالانو پر غاړه دی.
د مجلې لیکنو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په یادولو سره جواز لري.



سرلیک

پټې کیسې تل د تاریخ تر ټولو ژور رازونه وي!

افغانستان! دا لرغونی ټاټوبی، نه یوازې د تمدنونو د تګ راتګ ځلورلارې پاتې شوی، بلکې د طبیعي شتمنیو یوه خاموشه خزانه هم ده. د دې خاورې په تل کې داسې شتمنۍ پرتې دي چې په تدبیر، پوهې او رښتینې ټوګه وکارول شي، کولای شي د یو ملت برخلیک بدل کړي.

افغانستان د اوږدو جګړو، سیاسي بدلونونو او اقتصادي ستونزو وروسته اوس د یو نوي پراو پر لور روان دی؛ داسې پراو چېرته چې د ځان بسیاینې، تولید او داخلي ورتیاوو پر پیاوړتیا ټینګار کېږي. وروستۍ پراختیایي هڅې دا ښیي چې ملک د خپلو طبیعي سرچینو او کورنیو وړتیاوو د کارولو له لارې د اقتصادي ثبات په لټه کې دی.

اوس مهال د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري په شمال ختیځو ولایتونو لکه بدخشان او تخار کې د سرو زرو کانونو پراختیایي پروژو چارې په چټکتیا سره روانې دي، چې دا نه یوازې اقتصادي ارزښت لري، بلکې د کارموندنې او سیمه‌ییز پرمختګ لپاره هم اړینې بلل کېږي. دا پروژې په روښتیا او مسلکي ټوګه مدیریت کېږي او د افغانستان لپاره د عوایدو یوه اړینه سرچینه ګرځېدلې. ورته مهال په سرپل کې د امو دریا نفتي حوزه، چې د افغانستان د مسلکي انجنیرانو له لوري یې چارې پرمخ وړل کېږي دا د دې څرګندونه کوي، چې د بهرنیو کارپوهانو نه بغیر، د کورنیو کدرونو پر مټ د لویو پروژو مدیریت یوه ستره لاسته‌راوړنه ده. سربېره پردې د ملک په لوېدیځ کې د ټاپې نللیکې پروژه نه یوازې د انرژۍ د لېږد له اړخه اړینه ده، بلکې د سیمې ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا لپاره ستراتیژیک ارزښت لري. که دا پروژه په بریالیتوب سره بشپړه شي، افغانستان به د انرژۍ او ټرانزیټ له لارې د پام وړ عواید ترلاسه کړي. په پنجشیر ولایت کې د زمردو کانونو استخراج د افغانانو له لوري په قانوني ټوګه ترسره کېږي، چې دا چاره د داخلي عوایدو د لوړوالي او د کورنۍ تخصص د پیاوړتیا نښه ده.

همدارنګه په لوګر ولایت کې د مس عینک د لومړۍ او دوهمې پروژې چارې روانې دي، چې د ملک د کانونو په برخه کې یو بل ستر پرمختګ بلل کېږي او ګڼ شمېر کسانو ته یې کاري فرصتونه برابر کړي دي. د دې ترڅنګ د ملک په ځینو نورو ولایتونو کې هم د کانونو پر سترو او کوچنیو پروژو کارونه روان دي، چې دا د داخلي عوایدو د زیاتوالي، د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو او د زیربناوو د پراختیا لپاره ارزښتناکه وڼده لري.

دا ټولې پروژې یوازې اقتصادي فعالیتونه نه دي؛ بلکې دا د ځان بسیاینې او راتلونکي ته د هیلو ژوندی انځور دی. افغانستان نن د کار، تولید او پرمختګ په نوې فضا کې ساه اخلي.

دا پراختیایې بهیر یوازې د څو پروژو تر پلي کېدو پورې محدود نه دی، بلکې د ملک په ټولټولو برخو کې یې د اقتصادي خوځښت نوې څپې رامنځته کړي دي. د زیربناوو پراختیا، د انرژۍ سرچینو موندنه او د کانونو مسلکي استخراج هغه بنسټونه دي، چې د افغانستان اقتصادي پراختیا ور پورې تړلې ده.

د وروستیو پرمختګونو په رڼا کې، افغانستان د اقتصادي ودې او پرمختګ پر لور یو هیله بښونکې لاره نیولې ده. د ټولټولو پروژو پیل د ملک د بیارغونې او بنسټیز بدلون یو اړین ګام بلل کېږي، چې د راتلونکي لپاره مثبتې هیلې راپاروي.

په ټوله کې، دا مثبت بدلونونه د دې ښکارندویي کوي، چې افغانستان کولای شي د قوي هوډ، اغېزمنې تګلارې او ګډو هڅو په مټ یو روښانه او باثباته اقتصادي راتلونکی جوړ کړي.

خبرونه

د کانونو او پټرولیم وزیر د تاپي پروژې له رئیس سره وکتل

د کانونو او پټرولیم وزیرالحاج ملا هدایت‌الله بدري د ترکمنستان له سفیر ښاغلي خواجه عوضوف او د تاپي پروژې له رئیس محمد مراد امانوف سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دې لیدنه کې د ترکمنستان سفیر له هغو فرصتونو او اسانتیاوو څخه، چې د تاپي پروژې د پلي کولو په برخه کې د کانونو او پټرولیم وزارت د مشرتابه له لوري برابرې شوي دي مننه وکړه.


د تاپي پروژې رئیس د وزارت له مشرتابه سره د لیدنې له کبله خوښي څرګنده کړه او د پروژې د وروستیو پرمختګونو په ځانګړي ډول د افغانستان په خاوره کې د ګازو د نللیکې د لېږد او د دې پروژې د عملي چارو د څرنګوالي په اړه لنډ معلومات وړاندې کړل. همدارنګه د نللیکې په اوږدو کې د ځمکو د استملاک او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه یې بحث او نظرونه شریک کړل.

د کانونو او پټرولیم وزیر مېلمنو ته د ښه راغلاست ترڅنګ، د تاپي پروژې د مشرتابه له کړنو مننه وکړه او د دواړو ملکونو ترمنځ یې د اړیکو د پیاوړتیا پر ارزښت او نورو اړوندو موضوعاتو خبرې وکړې. نومورې زیاته کړه:"د تاپي پروژې پلي کېدل نه یوازې د افغانستان د خلکو لپاره، بلکې په یاده پروژه کې ښکېلو ملکونو لپاره هم اغېزمن ارزښت لري".

همدارنګه یې د سیمې د خلکو لپاره د کارموندنې پر زمینې برابرولو، د کاري پلانونو پر وخت شریکولو او د یادې پروژې د کارپوهانو له لوري د وزارت د انجنیرانو د وړتیا پر لوړولو باندې ټینګار وکړ.

په پای کې ښاغلي هدایت‌الله بدري د کانونو د قانون او کړنلارو له مخې د یادې پروژې د پلي کېدو په برخه کې د هر اړخیزو مرستو ډاډ ورکړ.





د افغان تاجک نفتي حوزې د سایزمیکي سروې پیل

د کانونو او پټرولیم وزارت او ازبېک اویزسیز جیولوجیکي کمپنۍ ترمنځ د هوکړه لیک پر بنسټ د افغان تاجک حوزې اړوند درېیو بلاکونو محمدجان ډګر، احمد اباد او شمر سایزمیکي دوه بعدي سروې د یادې کمپنۍ له لوري په وړیا ډول پیل شوه.

په مزارشریف ښار کې جوړه شوې غونډه کې د کانونو او پټرولیم وزارت د هایډروکاربونو د سروې رئیس انجنیرعبدالخلیل حنفي، د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند همایون افغان، د بلخ ولایت د مقام مرستیال مولوي نورالهادي ابو ادریس، د ازبېک اویزسیز جیولوجي کمپنۍ مشر خیت بای امانوف په مزارشریف کې د ازبېکستان قونسلګرۍ لومړي سکرتر شوکت، د رسنیو استازو او یو شمېر ځایي مسوولینو ګډون کړی وو.

غونډه د قران مجید د څو مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شوه، وروسته د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند راغلو مېلمنو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل:" د دوست او ګاونډي ملک ازبېکستان د ازبېک اویزسیز جیولوجیکي کمپنۍ له لوري د افغان تاجک حوزې د درېیو بلاکونو وړیا سایزمیکي دوه بعدي سروې د دواړو ملکونو په پیاوړو اړیکو، د دوی په حسن نیت، ښه ګاونډیتوب او د کانونو او پټرولیم وزارت د مشرتابه د ښه او ګټور مدیریت ښکارندویي کوي".

ښاغلي افغان همداراز زیاته کړه:" افغانستان پراخې او بډایې کاني زېرمې لري او موږ د دغو سترو الهي ډالیو د اغېزمن مدیریت لپاره کلک هوډ، ښه پلانونه او عملي ګامونه لرو، څو دا شتمني د ملک د تلپاتې پرمختګ سبب وګرځي".

سرېره پردې د کانونو او پټرولیم وزارت د هایډروکاربونو د سروې رئیس انجنیر عبدالخلیل حنفي د یاد هوکړه لیک او افغان تاجک حوزې په اړه ګډونوالو ته معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه:"افغان تاجک حوزه د ملک په شمال کې د نفتو یو ستره تثبیت شوې حوزه ده، چې د ازبېک اویزسیز جیولوجیکي کمپنۍ له لوري به یې له یولسو بلاکونو څخه یواځې د محمد جان ډګر، احمد اباد او شمر بلاکونو، چې په ټولیزه توګه(۷۶۱۷) کیلومتره مربع مساحت لري د سایزمیکي دوه بعدي سروې ترسره شي".

دغه راز د مزارشریف مرستیال والي د یادې پروژې د چارو د پیل په اړه خوښي څرګنده کړه او د هر اړخیزو مرستو ډاډ یې ورکړ نوموړي زیاته کړه:"په افغانستان کې د پانګونې او لویو پروژو د پلي کولو ښه فرصتونه برابر شوي دي".

په پای کې د ازبېک اویزسیز جیولوجیکي کمپنۍ رئیس خیت بای امانوف وویل:"موږ چمتو یو، چې له افغانانو سره ګډ کار وکړو او د ازبېکستان ملک پالیسي دا ده، چې له افغانانو سره د ښه ګاونډیتوب ترڅنګ هر اړخیزو مرستو ته دوام ورکړو".

د کانونو او پټرولیم وزیر د عزیزي انرژي ګروپ د فني هیئت له استازو سره وکتل

د کانونو او پټرولیم وزیر الحاج ملا هدایت‌الله بدري د عزیزي انرژي ګروپ د فني هیئت له استازو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.


په دې ناسته کې دواړو لورو په افغانستان کې له طبیعي ګازو څخه د برېښنا د تولید پر ارزښت، د انرژۍ برخې د پراختیا پر فرصتونو او همدارنګه د راتلونکو ګډو پلانونو په اړه یې هر اړخیز بحث او نظرونه شریک کړل.

د عزیزي انرژي ګروپ استازو په افغانستان کې د ګازي سرچینو د لا ښه اکتشاف، استخراج او له هغو څخه د برېښنا د تولید په برخه کې خپل فني وړاندیز(پروپوزل) د وزارت له مشرتابه سره شریک کړ.

دوی ټینګار وکړ که مناسبې اسانتیاوې او همغږي رامنځته شي، نو افغانستان کولای شي له خپلو کورنیو ګازي سرچینو څخه په اغېزمنه توګه ګټه پورته کړي او تر ډېره د برېښنا د کمښت ستونزه حل کړي. همداراز یې د یادو پروژو د عملي کېدو په صورت کې د اقتصادي ودې، کاري فرصتونو رامنځته کېدو او د انرژۍ د ځان بسیاینې پر مثبتو اغېزو هم خبرې وکړې.

د کانونو او پټرولیم وزیر د یاد هیئت د هڅو او نوښتونو ستاینه وکړه او زیاته یې کړه:"وزارت چمتو دی څو په یادو برخو کې له عزیزي انرژي ګروپ سره خپلې مرستې لا پیاوړې کړي؛ نوموړي ډاډ ورکړ، چې د طبیعي سرچینو د اغېزمنې ګټې اخیستنې او د انرژۍ د برخې د پرمختګ لپاره به لازمې اسانتیاوې برابرې شي او ګډې پروژې به د قانوني چوکاټ له مخې پلي شي".





مالي او اداري مرستیال د ختیځ زون د کانونو ارزونه ترسره کړه

د کانونو او پټرولیم وزارت مالي او اداري مرستیال الحاج مولوي حسام‌الدین صابري د فني ټیم په ملتیا د ختیځ زون د کانونو ارزونه ترسره کړه.

په یاد سفر کې یې د ننګرهار ولایت د بهلابهلو ولسوالیو د نفرایټو او سرپنټین، د کونړ ولایت د مرمر او نفرایټ ډبرو او د نورستان ولایت د کانونو سربېره د یاد زون د ریاستونو د فعالیتونو او اداري بهیرونو هر اړخیزه ارزونه وکړه.

دغه ارزونه د وزارت د نافذه پالیسۍ، لارښوونو او ټاکل شوو اصولو په رڼا کې ترسره شوه، چې پکې فني، اداري، مالي، الکټرونیکي سیسټمونه، د روغتیا اصول، سروې او نورې اړوندې مسلکي برخې شاملې وې.

د ارزونې بنسټیزه موخه دا وه، چې ترڅو د کانونو او د ریاستونو د ورټیاوو د پیاوړتیا، د شته ستونزو د حل، د چارو د معیاري کېدو او د راتلونکو پرمختیایي پلانونو د پلي کولو لپاره لازم ګامونه پورته شي.



د هرات ولایت د مالګې کان ټرون لاسلیک شو

د کانونو او پټرولیم وزیر الحاج ملا هدایت‌الله بدري د هرات ولایت د غوریان ولسوالۍ د نمکسار سیمې د مالګې د دویم بلاک ټرون، چې(۹,۷) کیلومټره مربع مساحت لري د(۲۰,۰۴۵,۰۰۰) شل میلیونه او پنځه څلوېښت زره امریکایي ډالرو په پانګونې سره، د ریډګولډ اسیا د کان کیندنې شرکت سره لاسلیک کړ.

د کانونو او پټرولیم وزیر د یاد کان د ټرون د لاسلیک پر مهال وویل:"دغه ټرون د هر ټن په بدل کې د(۱۵۰۰) افغانیو رویالټي په ټاکلو سره د(۱۵) کلونو لپاره لاسلیک کېږي او یاد شرکت به خپلې چارې د کانونو د قانون او کړنلارې پر بنسټ پر مخ وړي".

د یادونې وړ ده، چې دغه شرکت به د رویالټي ترڅنګ د ټولنیزو خدمتونو په برخه کې(۹۳۰,۰۰۰) نهه سوه او دېرش زره امریکایي ډالر ولګوي او شاوخوا(۱۰۰) کسانو ته به کاري فرصتونه برابر شي.

د کانونو او پټرولیم وزیر د ازبېکستان له سفیر سره وکتل

د کانونو او پټرولیم وزیر الحاج ملا هدایت‌الله بدري د ازبېکستان جمهوریت له سفیر اوییک عثمانوف سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دې کتنه کې دواړو لورو د ګډو مرستو د پراختیا او پیاوړتیا، د دواړو ملکونو ترمنځ د سوداګریزو او اقتصادي اړیکو د لا ټینګښت او په ځانګړي ډول د افغانستان د کانونو په برخه کې د پانګونې په اړه بحث او نظرونه شریک کړل.

د ازبېکستان سفیر د کانونو او پټرولیم وزارت د رهبرۍ له مېلمه‌پالنې څخه د مننې ترڅنګ، په بېلابېلو برخو کې د اسلامي امارت لاسته‌راوړنې اړینې وبللې او د افغانستان د کانونو په برخه کې یې د پانګونې په موخه د خپل ملک د پانګوالو د لېوالتیا په اړه خبرې وکړې. همدارنګه نومورې د طوطي میدان پروژې په برخه کې د شته ستونزو په اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړل.

د کانونو او پټرولیم وزیر د ازبېکستاني پانګوالو د لېوالتیا هرکلی وکړ او ډاډ یې ورکړ، چې وزارت به د بهرنیو پانګوالو د ملاتړ او هڅونې په موخه هر اړخیزې مرستې وکړي او لا زیاتې اسانتیاوې به ورته برابرې کړي.

د خوست ولایت د سرو زرو کان ټرون لاسلیک شو

د کانونو او پټرولیم وزیر الحاج ملا هدایت‌الله بدري د خوست ولایت د شمل ولسوالۍ سورکاني سیمې د سرو زرو کان ټرون له جاوید خان نیازي د کانونو د استخراج او پروسس سوداګریز شرکت له رئیس سره په خپل کاري دفتر کې لاسلیک کړ.

د کانونو او پټرولیم وزیر د یاد ټرون د لاسلیک پرمهال وویل، یاد کان(۰.۶۱۸.۵۰۳) کیلومټره مربع مساحت لري او ټرون یې د پنځو کلونو لپاره لاسلیک کېږي. نوموړي زیاته کړه:"یاد شرکت به د دې پروژې په برخه کې په ټولیزه توګه(۸۰۲،۴۷۶،۰۰۰) اته سوه دوه میلیونه، څلور سوه شپږ اویا زره افغانۍ پانګونه وکړي. همدارنګه د سیمې خلکو ته به د ټولنیزو خدمتونو په برخه کې هم خپلې ژمنې عملي کړي".

د جاوید خان نیازي د کانونو د استخراج او پروسس سوداګریز شرکت رئیس ژمنه وکړه، چې په ټرون کې شوې ټولې ژمنې به عملي کوي او د پروژې چارې به په بشپړې روښتیا او ټاکلي وخت ترسره کوي.

د یادونې وړ ده، چې په یاد کان کې د اسلامي امارت برخه(۶۰) سلنه ده.





د کانونو او پټرولیم وزیر الحاج ملا هدایت‌الله بدري د جبل‌السراج د سمنټو د دویمې کارخونې د پرانیستې په مراسمو کې ګډون وکړ

د جبل السراج د ارګ په مانۍ کې په همدې مناسبت جوړه شوې غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ښاغلي ملا عبدالغني برادر اخوند، د ریاست الوزراء اداري مرستیال ښاغلي مولوي عبدالسلام حنفي، د پروان والي، د ملي پراختیا شرکت رئیس، سیمه‌ییزو مسوولینو، قومي مشرانو او داخلي پانګوالو ګډون کړی وو.

د کانونو او پټرولیم وزیر ګډونوالو ته د خپلې وینا پر مهال وویل:"سمنټ د ملک په ابادۍ او رغونه کې اړینه ونډه لري او د الله تعالی په فضل افغانستان د سمنټو د خامو موادو پراخې او کافي زېرمې لري".

ښاغلي بدري زیاته کړه:"مور ویاړو، چې د دې ډول سترو صنعتي پروژو د پرانیستې شاهدان یو، د کانونو او پټرولیم وزارت د سمنټو شپږ ټرونونه لاسلیک کړي او د کندوز ولایت د سمنټو پروژې ټرون یې هم د پانګونې په موخه اعلان ته سپارلی دی".

نومورې وویل:"د کانونو او پټرولیم وزارت د ملک د ابادۍ او اقتصادي ځانبسیاینې په موخه، د سمنټو ترڅنګ د اوسپنې د کانونو ګڼ شمېر ټرونونه هم ورکړي او هڅه کوي، چې د کانونو له طبیعي شتمنیو څخه د صنعت، کاري فرصتونو او اقتصادي ودې لپاره اغېزمنه ګټه واخلي ترڅو ملک د صنعتي تولیداتو په برخه کې پرځان بسیا شي".



د هرات ولایت د سمنټو پروژې ساختماني چارې پیل شوې

د هرات ولایت د زنده‌جان ولسوالۍ د سمنټو پروژې عملي چارې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پیل شوې.

په همدې مناسبت جوړ شوي مراسمو کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند، د کانونو او پټرولیم وزیر الحاج ملا هدایت‌الله بدري، یو شمېر وزیرانو، د هرات والي شیخ نوراحمد اسلام‌جار، د ګلبهار شرکت رئیس او د رسنیو استازو ګډون کړی وو.

د غونډې په پیل کې د هرات والي راغلو مېلمنو ته ښه راغلاست وویل: او د یادې پروژې د عملي چارو د پیل په اړه یې خوښي څرګنده کړه، نومورې وویل:"د داسې سترو پروژو په پلي کېدو سره به د هرات ولایت د بیارغونې او اقتصادي پرمختګ په برخه کې د پام وړ بدلون رامنځته شي. نومورې د یادې کارخونې مسوولینو ته د هر ډول قانوني مرستو ډاډ ورکړ".

ورپسې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پر مهال وویل:"افغانستان د کاني زېرمو له پلوه یو غني ملک دی، اسلامي امارت هڅه کوي، چې له شته امکاناتو او طبیعي سرچینو څخه په اغېزمنې ګټې اخیستنې سره د ملک اقتصادي زېربناوې پیاوړې او ورغوي. نومورې زیاته کړه، چې د پانګه‌والو د ملاتړ په موخه مالیاتي تخفیفونه، معافیتونه او نورې اسانتیاوې رامنځته شوې دي او اسلامي امارت هڅه کوي، چې د مالي او بانکي محدودیتونو اغېزې راکمې او شته ستونزې ته مناسبې حلالارې پیدا کړي".

همداراز د کانونو او پټرولیم وزیر الحاج ملا هدایت‌الله بدري د هرات ولایت د سمنټو پروژه ارزښتناکه وبلله او ویې ویل: نن ورځ د هرات ولایت، په ځانګړې توګه د زنده‌جان ولسوالۍ د خلکو لپاره، یوه ارزښتناکه او د ملک د اقتصادي او صنعتي پرمختګ په برخه کې د پام وړ ورځ ده؛ ځکه د ګلبهار سمنټ شرکت له لوري د سمنټو د یوې سترې کارخونې د جوړولو ودانیزې چارې پیلېږي.

نومورې وویل:" د دې سترې پروژې د پانګونې حجم شاوخوا(۱۴۳) یو سل او دري‌خلوېښت میلیونه امریکایي ډالره دی او ټاکل شوې، چې د کارخونې د جوړولو وروسته به هره ورځ شاوخوا(۳۰۰۰) ټنه سمنټ تولید کړي".

د کانونو او پټرولیم وزیر زیاته کړه:"چې د دې پروژې ارزښت یوازې د سمنټو تر تولید محدود نه دی؛ بلکې د ملک د اقتصادي ودې، د صنعت د پیاوړتیا، د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو او د ودانیزو چارو د اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې به هم اړینه ونډه ولري".

نومورې ټینګار وکړ، چې د کانونو او پټرولیم وزارت د ملک له طبیعي سرچینو څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې، د پانګونې د جذب او د خصوصي برخو د ملاتړ په برخه کې خپل مسوولیت ته ژمن دی او له ټولو پانګه‌والو او خصوصي شرکتونو یې وغوښتل، چې د ملک په اقتصادي او صنعتي پرمختګ کې لا ډېره فعاله ونډه ولري.

په پای کې د یادې کارخونې رئیس ډاډ ورکړ، چې د پروژې چارې به د ټاکل شوي مهال‌وېش له مخې په ښه کیفیت او پر وخت بشپړې کړي.



د پروان ولایت د باریت کان د کښندنې او پروسس ټرون لاسلیک شو

د کانونو او پټرولیم وزیر الحاج ملا هدایت‌الله بدري د پروان ولایت د سرخ پارسا ولسوالۍ د فرنجل سیمې د باریت کان د کښندنې ټرون، چې(۱۱.۲۷) هکټاره مساحت لري د(۱۰۶) یو سل او شپږ میلیونه افغانیو په پانګونې سره له نبي افغان د کانونو د کښندنې او پروسس شرکت سره د پنځو کلونو لپاره لاسلیک کړ.

یاد شرکت به د ټرون له شرایطو سره سم، د هر ټن(۸۵۰) اته سوه او پنځوس افغانیو رویالټۍ سربېره، شاوخوا(۳۰۰) کسانو ته کاري فرصتونه برابره وي او همدارنګه یاد شرکت به د یادو موادو د پروسس لپاره په ملک کې معیاري کارخونه جوړه وي.







شعار

کاني سرچيني الهي پيرزوينه ده



بررسی مقدماتی منابع فاسفیت رسوبی(فاسفریت) در ترسبات بحری عصر سینوزوئیک نواحی چمتال ولایت بلخ

ترتیب کننده گان: دیپلوم انجنیر عبدالله "زاهدی" ماستر ترینر جیولوجی و اکتشاف معادن، ریاست انستیتوت معادن و انجنیر نادرعلی "کاوش" سرجیولوجیست تیم نمبر دوم ریاست سروی و تحقیقات جیوفزیک

چکیده

این تحقیق به روش مطالعات کتابخانهٔ، نتایج مشاهدات سطحی و بررسی مقدماتی جیولوجیکی و نمونه‌گیری جهت تثبیت نقاط حاوی مواد مفیده و ندول‌های فاسفریتی در ترکیب ترسبات بحری عصر سینوزوئیک(Cenozioc) نواحی ولسوالی چمتال، دامنه کوه البرز و در جناح شکست البرز- مارمل ولایت بلخ ترتیب شده است. محیط‌های احتمالی ترسبات فاسفریتی در تشکیلات پالیوجن میانی(Eocene) نظر به دارا بودن ندول‌های فاسفریتی و تغییرات ترکیبی و فارمیشنی می‌باشد. با توجه به ساختمان جیولوجیکی محلی بیانگر وجود یک انتی‌کلاین بزرگ در این ساحه بوده که هسته مرکزی آن توسط لایمستون‌های محدوده ماستریشتسن-پالیوسن(Maastrichtian-Paleocene) مشخص می‌گردد.

تمام تشکیلات ترسبات فوق دارای حالت ستراتیفورمی بوده و لایه‌های منظم شان قابل تفکیک است. اما در بعضی نقاط بیجایی‌های طبقاتی و بی نظمی‌های نیوتکتونیکی ساختمان کلی آن را متاثر ساخته که آمپلیتودهای بیجایی آن قابل مشاهده اند. همچنان آثار فعالیت ایروژنی از قبیل شستشو، نقل و انتقالات نیز در این مناطق قابل توجه است. ندول‌های فاسفریتی در بین طبقات ارگلیتی به ضخامت(۰.۳) متر به طول مجموعی حدود (۳.۵) کیلومتر دارد و فیصدی اعظمی فاسفورس(P) در نمونه‌های اخذ شده در حدود(۱۰.۸۶) فیصد می‌باشد.

مقدمه

فاسفیت کاربردهای بسیاری داشته و از این جهت از اهمیت بالایی در صنعت برخوردار می‌باشد. بناً با توجه به اهمیت این ماده معدنی جهت دریافت و ارزیابی منابع ممکنه فاسفیت، خاصتاً منابع رسوبی بر اساس شواهد وجود ذخایر یا ظواهر آن که در ممالک

همسایه وجود دارند. ترکیبات فاسفریتی یکی از ضروریات اصلی و مهم برای راه اندازی اولین پروژه تولید کودهای کیمیاوی می‌باشند. فاسفریت خود مواد منرالی است، با خاصیت فعال قلوی و برای خنثی نمودن سلفوریک اسید تولید شده فابریکه پروسس سنگ‌های معدنی سلفایدی کاربرد داشته، که در نتیجه کود کیمیاوی(فسفاته) از آن بدست می‌آید.

اگرچه تا اکنون منابع مشخصی از رسوبات فاسفریتی طی عصر پالیوسن در مملکت شناخته نشده، ولی در عین عمر و ترکیبات رسوبی در ممالک همسایه افغانستان مانند: اوزبیکستان، تاجیکستان، ترکمنستان و ایران ذخایر خوب و قابل توجه آن کشف شده است. بدین لحاظ مطابق به موقعیت جغرافیایی افغانستان در حواشی بحر تتیس، مطالعات ظواهر فاسفریتی در ترسبات بحری کم عمق(Shallove water) که طی عصر پالیوسن تشکیل شده است باید مورد تحقیق و مطالعه قرار داد.

پیشینه و مبنای تحقیق

در افغانستان تا هنوز در یک ساحه ترکیبات فاسفریتی در کوتل سبزک ولایت بادغیس مرتبط به ترسبات و طبقات کنگلومیرات‌ها و سنگ چونه تباشیر فوقانی توسط متخصصین شوروی وقت و متخصص افغان"عبدالله شارق" مطالعه گردیده است. در ساحه نواحی ولسوالی چمتال ولایت بلخ برای اولین بار در سال(۱۴۰۴) طی سروی مقدماتی از ظواهر سنگ و گچ آن ساحه نمونه‌های از ندول‌های فاسفریتی توسط تیم نمبر دوم سروی و جیوفزیک از ترسبات ارگلیتی عصر سینوزوئیک اخذ نموده و بعد از تجزیه و تحلیل آزمایشگاهی فیصدی قابل ملاحظهٔ از فاسفیت را نشان داد، که بعد مطالعاتی اندکی روی آن صورت گرفته است و ایجاب مطالعات بیشتر را می‌نمایند، همچنان در عین عمر و ترکیبات رسوبی بحری در ممالک همسایه افغانستان مانند: اوزبیکستان، تاجیکستان، ترکمنستان و ایران ذخایر خوب و قابل توجه آن کشف شده است و فعلاً در حال استخراج می‌باشند.

با توجه به موقعیت افغانستان در حواشی پلاتفورمی و شیلف بحر تتیس قدیمه(PaleoTethys) که در بین عرض البلدهای قدیم شمالی(۰ و ۴۰) درجه موقعیت داشته، مفکوره مذکور را تقویت می‌نماید. گرچه تا کنون فاز نحوه پیشرفت بحر مرتبط به ذخایر رسوبی فسفاته در جریان(پالیوسن-ایوسن) شناخته نشده، که ذخیره ابتدائی فاسفات رسوبی در آن تثبیت شده باشد.

بر اساس شواهد بدست آمده در قسمت موجودیت منابع فاسفیت رسوبی در ممالک همسایه افغانستان منجمله دریافت ترسبات حاوی فاسفریت مملکت تاجیکستان مرتبط به تشکیلات ایوسین تحتانی(Lower Eocene) گزارش شده اند. جزئیات ترکیبی این ترسبات شامل آرگلیت و گل‌های حاوی مواد عضوی(Bituminous dark clay)، همراه با لایمستون‌های کم ضخامت بین لایهٔ، مارل و سنگ‌های ریگی می‌باشد. گل‌ها و مارل‌های یاد شده مرکب از مقدار زیاد سلفاید آهن(Pyrite) را به همراه داشته که علاوتاً حضور فوسیل‌های مانند فورامنیفیرا(Foraminifera)، دوکفهٔها، گستروپودا و کورل‌ها نیز یادآوری شده و طبقات غنی از فاسفیت با ضخامت (۱۱الی ۴۵) متر ذکر گردیده است.

ندول‌های(nodules) فاسفریتی حتی در بین طبقات گلی به قسم پاشان و یا در طبقات منفرد و عدسیه‌ها با تغییر ضخامت‌ها سریع تجمع نموده اند. طوریکه در بعضی نقاط ضخامت عدسیه و لایه های منفرد از(۰.۱ الی ۰.۳) متر می‌تواند متغییر باشد. ابعاد ندول ها می‌تواند از(1.5 mm بصورت خاص تا به۱۰ سانتی متر) می‌رسد. ندول‌ها مرکب از دانه‌های فورامنیفیرا(Foraminifera)، دو کفهٔها و گستروپوداها می‌باشند. حفره‌های موجود در بین این ندول‌ها بعد از کوپرولیت‌ها(Coprolites) با ترکیبات آهنی مانند: جیوتیت، باریت، سلستین(Celestine) و کلسیت پر شده اند. درجه فاسفات بین(۱و۴) فیصد(P_2O_5) گزارش شده است(GTZ ,۲۰۰۹).

موقعیت جغرافیایی ساحه

ساحه مورد تحقیق در بخش پلاتفرم شمال مملکت(فرو رفتگی افغان-تاجیک) مربوط ولسوالی چمتال ولایت بلخ می‌باشد. این ولایت به فاصله حدود(۴۳۰) کیلومتری شمال شهر کابل و در جنوب دریای آمو واقع گردیده است. بلخ با(۱۷,۲۴۹) کیلومتر مربع مساحت و ارتفاع آن از سطح بحر بالاتر از(۳۵۰) متر است که در شرق آن ولایات سمنگان و کندوز، طرف غرب آن ولایات جوزجان و سرپل، از سمت جنوب نیز با سرپل و سمنگان سرحد مشترک دارد. نقاط سروی شده در ولسوالی چمتال با فاصله(۳۴-۳۶) کیلومتر از شهر مزار شریف و در سمت غرب آن واقع گردیده است.



شکل اول. شیمای از واحدهای اداری و ساحات همجوار ولایت بلخ.



شکل دوم. موقعیت ساحه تحت تحقیق طبق عکس هوایی نظر به ساحات معدنکاری فاسفیت در ممالک تاجیکستان و اوزبیکستان (google earth Image).

روش تحقیق

این تحقیق در سه روش کتابخانهٔ، ساحوی و آزمایشگاهی انجام یافته، که معلومات عمومی راجع به ساحه مورد مطالعه از کتاب‌ها، راپورهای جیولوجیکی و مقالات معتبر اخذ گردیده است. جهت تعیین ترکیبات کیمیاوی مقداری فاسفریت ساحه مورد مطالعه بعد از نمونه برداری از ساحه، نمونه‌ها به منظور انجام تجزیه کیمیاوی به آزمایشگاه ارسال شده است.

یافته‌ها و تحلیل نتایج

احجار فاسفیتی

منرال‌های گروه فاسفیت در سراسر جهان برای تولید فاسفوریک اسید و انواع مختلف کودهای کیمیاوی مورد استفاده قرار می گیرد. مهم‌ترین منرال‌های فاسفیت‌ها شامل: آپاتیت، تریفیلین، مونازیت، لازولیت، پیروموفیت و فیروزه می‌باشد. اما ابعاد توزیع عنصر فاسفورس در طبیعت بسیار وسیع است که در طیف گسترده از سنگ‌های پوسته زمین شناخته شده است. فاسفیت و سنگ‌های فاسفریتی گرچه اصطلاح دقیق نیست، که برای سنگ‌های حاوی فاسفیت اطلاق گردد ولی در برخی منابع و به جای یکدیگر استفاده می‌شوند. با آنهم فاسفریت طبق طبقه بندی پی.تی جان (P.T. john) بیشتر به ترکیبات که در شرایط رسوبی بوجود می‌آید اطلاق می‌گردد و این تحقیق در مورد نوع رسوبی آن صورت گرفته است.

فاسفیت رسوبی(فاسفریت)

فاسفیت یا رسوبات حاوی فاسفریت در تمام قاره‌های جهان طی دوره‌های مختلف جیولوجیکی از پروتروزوئیک آغاز الی عهد حاضر (P.T.john) وجود دارد. از آن میان می‌توان به چندین رویداد عمده فاسفوجنیک در ادوار مختلف جیولوجیکی اشاره نمود:


۱ـ دوره پروتروزوئیک فوقانی کامبرین که ذخایر آن بصورت عمده در مرکز و جنوب آسیا پیدا می‌شود.

۲ـ دوره پرم که ذخایر آن در امریکای شمالی شناخته شده است.

۳ـ دوره جوراسیک - کرتاسه تحتانی که ذخایر آن بیشتر در شرق اروپا متمرکز می‌باشد.

۴ـ دوره کرتاسه فوقانی تا ایوسن که ذخایر آن بیشتر در شمال افریقا، شرق میانه، بعضاً آسیای مرکزی تثبیت گردیده است.

۵ـ عهد میوسن که منابع فاسفیت در بخش جنوب شرقی ایالات متحده یافت می‌گردد.



شکل سوم. بیانگر ذخایر کلی رسوبی طی ادوار جیولوجیکی در ممالک همجوار بر گرفته از راپور(USGS,2015).

مطابق به مطالعات انجام شده روی ذخایر رسوبی فاسفریتی محیط‌های پوتانسیلی ذیل قابل توجه می‌باشد:

الف. ذخایر محیط‌های قارهٔ که در امتداد حواشی فعال شامل نواحی پلاتفورمی، شیلف‌ها(Shelves) و حوزه‌های فرو رفته درون فلاتی طی روند تخریبات رسوبگذاری تشکیل می‌شود.

ب. در پهنای عرض‌البلدهای گرم احتمالاً بین موازات(۰ تا ۴۰) درجه.

ج. در جریان افزایش آب بحر و یا دوران پیشروی ابحار.

ذخایر نوع(الف و ب) در گستره جغرافیایی مرتبط با جریانات بحری، موقعیت‌های قاره‌ها، عرض‌البلد و همچنان اشکال و وسعت حوزه‌های بحری معین می‌گردد. لذا روندهای تکتونیکی نقش اساسی در موقعیت گیری و اشکال ذخایر فاسفریتی ایفا می نماید. بیشترین منابع اقتصادی فاسفریت‌ها منشاء بحری داشته که از نظر مساحت و فیصدی بالای(P_2O_5) قابل توجه می‌باشد. تقریباً(۸۰) درصد از تولیدات فاسفیت جهان از ذخایر رسوبی بدست می‌آید.

ساحه مورد تحقیق نظر در پلاتفورم شمال مملکت و فاز چین خوردگی(Epi-Hercynian) در یک ساختمان آنتی‌کلاینی و سیستم شکستگی البرز - مارمل قرار می‌گیرد. ولی در مقیاس وسیع‌تر امتداد بخش جنوبی میگاسین، کلاین، سورخان و قسمت پلیت آسیایی به حساب می‌آید.



شکل چهارم. موقعیت ساحه با دایره سرخ و ارتباط آن با رسوبات حاوی فاسفیت ممالک همجوار(USGS,2015).

این پلاتفرم از طرف جنوب توسط شکستگی عمیق هریرود از افغانستان مرکزی و جنوبی جدا می‌گردد. فعالیت تکتونیکی، سیستم‌های شکستگی و فازهای چین خوردگی تعیین کننده ساختمان محیط ذخایر فاسفیت در طول ادوار جیولوجیکی پنداشته می‌شود. بسیاری از ذخایر در مناطق وسیع از خشکه امروزی موقعیت دارند، که زمانی جز حواشی فعال بحری محسوب می‌گردید. همان طوریکه در شکل چهارم قابل مشاهده است، قسمت‌های از پلاتفرم شمال افغانستان در حواشی بحر تیتس موقعیت داشته، که بر اثر فعل و انفعالات فزیکی، کیمیاوی سبب تشکیل ترسبات فاسفریتی در حوزه شمال مملکت گردیده اند. در حوزه شمال خصوصاً در ساحات تحت مطالعه ترسبات ذیل گسترش وسیع دارند:

۱ـ ترسبات بحری عهد ایوسن(Eocene) در حوزه شمال بیشتر شامل انواع گل، شیل‌های سیاه رنگ حاوی مواد عضوی(Clay and Shale)، سیلت ستون (Siltstone) که بیشتر همراه با سنگ‌های ریگی میده دانه تا متوسط دانه(Sandstone)،سنگ چونه لایهٔ کم ضخامت(Limestone)، مارل(Marl)، گچ(Gypsum) و کنگلومیرات (Conglomerate) که ذرات تشکیل دهنده آن دارای صیقلیت خوب تا متوسط با ماتریکس کربناتی و سلیکاتی و بعضاً در حد گراول ستون به چشم می‌خورد.

۲ـ گل‌های سرخ رنگ(Red clay)، سیلت‌ستون(Siltstone)، سنگ های ریگی(Sandstone)، کنگلومیرات‌ها بر علاوه طبقات سنگ چونه لایهٔ عهد میوسن آغازی پوشش فوقانی ترسبات ایوسن را تشکیل می‌دهد. در این بخش همچنان استیج میوسن میانی شامل ترکیبات گلی قهوهٔ رنگ، سیلت ستون، کنگلومرات‌ها و لایه‌های سنگ چونه نیز قابل تفکیک است.



شکل پنجم. نشان دهنده ترکیب ستون ستراتیگرافی محلی قسمت غربی ساحه و زون ندول دار فاسفریتی.

ترسبات ایوسن در این نواحی متشکل از طبقات سنگ چونه نازک بین لایهٔ خاکستری و مایل به سفید، طبقات گچ، مارل، شیل‌ها، ارگلیت‌های سبز، خاکستری و در آخر لنزهای سنگ ریگی و طبقه کنگلومیراتی در سرحد فوقانی با ترسبات عصر میوسن منطقه قرار دارد(حوزه شمال-کتواز)، سرحد پائینی این بخش توسط تسلسل البرز- مارمل شامل طبقات سنگ چونه بریکچیایی استیج (Maastrichtian-Paleocene) که در کانتکت جنوبی ترسبات فاسفریتی دار ساحه واقع شده قابل تفکیک است. ترکیبات و ترسبات مورد نظر با حالت ساختاری منظم عموماً از حالت لایهٔ (Stratified formations) برخوردار می‌باشد. کانتکت شمالی لایه حاوی ندول های فاسفریتی را ترسبات میوسن تحتانی(Early Miocene) شامل سنگ‌های ریگی غیر مستحکم، سلیت ستون و گل‌های سرخ، گل‌های قهوهٔ، کنگلومیرات‌ها و گراول ستون تشکیل می‌دهد که در نهایت توسط رسوبات چهارمی تحت پوشش قرار می‌گیرند.

بررسی‌های مقدماتی در این نواحی بر اساس بازدید مشاهداتی، برای دریافت نقاط مثمر و دلچسپ با مسافت طولی(۴) کیلومتر و عرض متوسط(۱۶۰) متر را پوشش داده است. این مشاهدات با تجزیه و تحلیل ساختاری و منزل‌های ساختمانی بر اثر فعالیت نیوتکتونیک که طبقات رسوبی را متأثر ساخته طوریکه در بعضی حالت نشست و بیجایی سبب از بین رفتن نظم تسلسل فارمیشنی شده اند. وضعیت مذکور در امتداد غربی ساحه تحت تحقیق به وضاحت قابل تشخیص اند. زیرا در این نواحی امتداد کامل مقطع ترسبات استیج ایوسن به ملاحظه نمی‌رسد و فقط بخش از سرحد تحتانی آن شامل لایه‌های گچی و شیل توسط تشکیلات میوسن بصورت پیش رونده تحت پوشش قرار گرفته و در سطح زمین دیده می‌شود.

با پیمایش مسیر و مشاهدات جیولوجیکی از سمت غرب به شرق در امتداد لایه‌های رسوبی حاوی فاسفیت، به طول(3.5 Km) کیلومتر تثبیت‌گردیده است. تجمع ندول‌های فاسفریتی در بین لایهٔ ترسبات ارگلیتی در موقعیت‌های که حفریات، انجام شده است به(۰.۳) متر می‌رسد و همچنان لایه مذکور معرض فرسایش قرار گرفته و در سطح به قسم پاشان نیز قابل رویت است. گسترش سطحی ندول‌های مذکور در سطح زمین تابع ریلیف ساحه بوده از(۴ الی ۱۰) متر توزیع شده اند. با انجام تحقیقات بالای ساحه مذکور بر اساس ضرورت نمونه گیری‌های شتوفنی از نقاط مختلف مسیرهای تحقیقاتی جهت تجزیه آزمایشگاهی اخذ شده اند. لذا طبق ضرورت انالیز نمونه‌های مذکور جهت روشن شدن مقدار(P_2O_5) در ترکیب ترسبات ساحه و زون‌های ندول دار فاسفریتی به تعداد(۹) نمونه به آزمایشگاه(SGS) مملکت پاکستان ارسال شده است و نمونه‌های متذکره توسط دستگاه(ICP-OES) مورد تجزیه و تحلیل قرار گرفته است که نتایج آن درج جدول ذیل می‌باشد.

جدول اول فیصدی نتایج آزمایشگاهی نمونه‌ها بر اساس عنصر فاسفورس(ICP-OES).

	نمبرنمون	محل اخذ	نوعیت نمونه	ولسوالی	فیصدی فاسفور(p)
۱	P1	زون ندول دار ارگلیت‌ها	اشتوفنی	چمتال	۱۰.۴۰ %
۲	P2	احجار مجاور شیل‌ها			۰.۰۱ %
۳	P3	احجار مجاور لایمستون‌های لایه‌ای			۰.۰۱ %
۴	P4	لایمستون‌ها			۰.۰۴ %
۵	P5	لایمستون‌ها			۰.۰۱ %
٦	P6	لایمستون‌ها			۰.۰۲ %
۷	P7	زون ندول دار ارگلیت			۰.۸٦ %
۸	P8	زون ندول دار ارگلیت			۰.۳۹ %
۹	P9	شیل‌های سبز مایل به خاکستری‌ها			۰.۰۱ %

نتیجه گیری

از آنجائیکه فاسفیت با منشاء رسوبی مرتبط به عصر سینوزوئیک برای اولین بار در سطح افغانستان توسط نویسنده این تحقیق مورد مطالعه و شناسایی قرار گرفته است، این خود گام مثبت و ارزشمند پنداشته می‌شود. چونکه دورنمای خوبی را جهت مطالعات بیشتر ترسیم نموده و منجر به دریافت و تثبیت ظواهر و ذخایر خوب در سایر نقاط ممالک در عین تشکیلات خواهد شد. زیرا ذخایر، ظواهر و معادن فعال با منشاء رسوبی با عین مشخصات طی عهد پالیوسن ایوسن در ممالک همجوار از جمله تاجیکستان، اوزبیکستان، ترکمنستان و پاکستان به شمول بخش‌های از ایران و چین وجود داشته، که این موضوع در افغانستان مبهم بوده و یا شواهد از آن مورد شناسایی قرار نگرفته اند. لذا دریافت ندول‌های فاسفریتی در دامنه سلسله کوه البرز در لابلای ترسبات پالیوجن میانی که خود جز ساختمان میگاسینکینالی سورخان، فارمیشن سوزاک و بخارا محسوب می‌شود، عملاً ایده وجود ذخایر فاسفریتی در عین تشکیلات افغانستان را تقویت می‌نماید. تشکیلات مذکور در ممالک تاجیکستان و اوزبیکستان از گسترش وسیع برخوردار بوده و معادن خوبی فاسفریتی مرتبط به آن کشف

و شناسایی شده و این خود می‌تواند موجودیت ذخایر بالقوه فاسفریتی را در حوزه شمال افغانستان بازگو نماید و راه‌گشای مطالعات دقیق اکتشافی بعدی پنداشته شود.

پیشنهادات

بر اساس تحقیقات انجام شده نکاتی ذیل پیشنهاد می‌گردد:

۱ـ مطالعات و روند اکتشاف دقیق بالای ساحه مورد نظر تطبیق گردد.

۲ـ نمونه‌گیری سیستماتیک طبق شبکه اکتشافی در ساحه تطبیق گردد.

۳ـ در ساحه متذکره مطالعات جیوفزیکی و حفریات اکتشافی انجام گیرد و نمونه‌های اخذ شده از ساحه به روش‌ها و میتودهای مختلف مورد تجزیه قرارگیرند تا اجزای مفید و مضر آن تثبیت گردد.

۴ـ نمونه‌گیری جهت بررسی خصوصیات پروسس و پر عیار سازی به روش‌های فلوتاسیون، کلیسنه و غیره روش‌ها صورت گیرد.

۵ـ مطالعات جیوفزیکی رادیومتریکی، کراتاژ با در نظر داشت همبستگی بلند فاسفورس با عناصر رادیواکتیف از جمله یورانیم در این ساحه صورت گیرد.

٦ـ از آنجاییکه فاسفیت بر علاوه خنثی سازی تیزاب سلفوریک کارخانه پروسس سنگ‌های معدنی سلفایدی خصوصاً مس کاربرد دارد، برای تولید کودهای فسفاته نیز کاربرد وسیع داشته چون افغانستان یک مملکت زراعتی بوده از اینرو نیاز مبرم به منابع فاسفیت جهت تولید کودهای فسفاته دارند. از این جهت نیز در این قسمت توجه زیاد صورت گیرد.

منابع

1- Abdullah, Sh., and Chmyriov, V.M., eds. in chief, 1977, Geology and mineral resources of Afghanistan, book1: Afghanistan Ministry of Mines and petroleum.

2- Mines and Industries, Afghanistan Geological Survey, reprinted.

3- G.J. Orris, Pamela Dunlap, and John C. Wallis, Phosphate Occurrence and Potential in the Region of Afghanistan, Including Parts of China, Iran, Pakistan, Tajikistan, Turkmenistan, and Uzbekistan, USGS Open-File Report 2015–1121.

4- C.A. Ruleman, A.J. Crone, M.N. Machette, K.M. Haller and K.S. Rukstales Map and Database of Probable and Possible Quaternary Faults in Afghanistan, USGS Open-File Report 2007–1103.

5- USGS. GEOLOGIC MAP OF QUADRANGLES 3666 AND 3766, BALKH (219), MAZAR-I-SHARIF (220), QARQIN (213), ANDHAZARA TOGHAI (214) QUADRANGLES, AFGHANISTAN, Scale 1: 250,000 Compiled by Ronald R. Wahl 2005.

Phosphate occurrence and potential of south Asia: https://mrdata.usgs.gov/ofr20151121/

6- https://en.wikipedia.org/wiki/Paleo-Tethys_Ocean

7- https://www.indexmundi.com/commodities/?commodity=rock-phosphate&utm_

۸ـ سهاک، نقیب‌الله(۱۳۹۵). تفحص و اکتشاف معادن مواد مفیده جامد، انتشارات نوی مستقبل کابل.

۹ـ سهاک، نقیب‌الله(۱۳۹۱). علم المعادن غیرفلزی، انتشارات نوی مستقبل کابل.



له خصوصي برخو سره د کانونو او پټرولیم وزارت د مرستو په اړه

د وزارت د پالیسي او برنامو مرستیال شیخ الحدیث عبدالرحمن قانت سره مرکه

۱ـ پوښتنه: له خصوصي برخو سره د وزارت مرستې څنګه ارزوئ؟

ځواب: د کانونو او پټرولیم وزارت له خصوصي برخو سره مرستې د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره ډېرې اغېزمنې دي، په ځانګړي ډول د کانونو د ټرونونو د ورکړې په برخه کې وزارت هڅه کوي، چې خصوصي برخې ته لازمې او مناسبې اسانتیاوې برابرې کړي، تر څو هغوی وکولای شي په اسانه توګه د کانونو ټرونونه ترلاسه کړي. دا به د دې لامل شي، چې د افغانستان اقتصاد پیاوړی شي، کاري فرصتونه زیات شي او له طبیعي زېرمو څخه سمه ګټه پورته شي.

له خصوصي برخو سره د وزارت مرستې د ملک د اقتصاد او پرمختګ لپاره ډېره ارزښتناکه ده، په ځانګړي ډول د کانونو ټرونونو د ورکړې او پلي کولو په برخه کې.

وزارت تل د چارو د سمه کېدو په موخه تلپاتې نظارت کوي، لازمې سپارښتنې ورکوي، حقوقي او فني سپارښتنې او د ستونزو په حل کې ورسره مرسته کوي، چې له دې سره به په راتلونکي کې خصوصي برخې د پیاوړتیا او ځان بسیاینې په لور لاړې شي.

۲ـ پوښتنه: وزارت څنګه ډاډ ورکوي، چې خصوصي برخې په روښانه ډول پروژو کې برخه واخلي؟

ځواب: د کانونو او پټرولیم وزارت د دې لپاره، چې خصوصي برخې په روښانه او عادلانه ډول په پروژو کې برخه واخلي، یو لړ منظمې کړنلارې عملي کوي.

- د کانونو ټرونونه د ازادو بولیو له لارې اعلانوي، چې په شرایطو برابر شرکتونه کولای شي ګډون وکړي او سیالي رامنځته شي.
- د پروژو اړوند ټول معلومات، شرایط او فني ځانګړتیې مخکې له مخکې له شرکتونو سره شریک کېږي، تر څو هېڅ اړخ ته ځانګړی امتیاز ورنه کړل شي.
- د وړاندیزونو د ارزونې لپاره فني او مالي هیئت ټاکل کېږي، چې د شرکتونو تجربه، وړتیا او مالي وړتیا په دقیق ډول وڅېړي.
- ټول ټرونونه د نافذه قوانینو له مخې ترسره کېږي، چې دا کار د قانون حاکمیت او روښتیا تضمینوي.
- له بلې خوا، وزارت د پروژو د پلي کولو پر مهال تلپاتې څارنه کوي او شرکتونه اړ کوي، چې خپل فعالیتونه په منظم ډول ترسره کړي.

۳ـ پوښتنه: له خصوصي برخو سره مرستې د ملک پر اقتصاد څه مثبتې اغېزې لري؟

ځواب: د کانونو او پټرولیم وزارت تل خصوصي برخې د خپل مټ په توګه پېژني. د کانونو په برخه کې له خصوصي برخو سره مرستې د ملک پر اقتصاد ډېرې مهمې او مثبتې اغېزې لري، چې کولای شو له لاندې اغېزو څخه یادونه وکړو:

- د خصوصي برخو په ګډون سره پانګونه زیاتېږي، ځکه شرکتونه د کانونو د استخراج، پروسس او زیربناوو په برخه کې خپله پانګه لګوي. دا پانګونه د داخلي اقتصاد د پیاوړتیا سبب ګرځي.
- له خصوصي برخو سره مرستې د کارموندنې فرصتونه رامنځته کوي. د کانونو په پروژو کې زرګونو کسانو ته په مستقیم او غیرمستقیم ډول کاري فرصتونه برابره وي، لکه فني کارکوونکي، انجنیران او عادي کارګران.

- د دولت عواید زیاتېږي، ځکه خصوصي شرکتونه د ځمکې د سطحې کرایه، فیس (رویالټي) او ټرونونو له لارې حکومت ته عواید ورکوي.
- د خصوصي برخو له لارې عصري ټکنالوژي او فني تجربې ملک ته راځي، چې د کانونو استخراج معیاري او اغېزمن کوي او د ضایعاتو مخنیوی کوي.
- د کانونو د داخلي پروسس پراختیا ته زمینه برابریږي، چې له املې بې خام مواد د ملک دننه ارزښت پیدا کوي او صنعتي پرمختګ چټک کېږي.
- د کانونو پرمختګ د زیربناوو جوړولو ته هم لاره هواروي، لکه سړکونه، برېښنا او ترانسپورټي سیستمونه، چې نور اقتصادي فعالیتونه هم پیاوړي کوي.

۴ـ پوښتنه: ټرونونو کې د خصوصي برخو د برخې اخیستنې لپاره وزارت کومې اسانتیاوې په پام کې نیولې دي؟

ځواب: د کانونو او پټرولیم وزارت د خصوصي برخو د ملاتړ او جذب لپاره بېلابېلې اسانتیاوې په پام کې نیولې دي. لکه د زرشویې، حرفوي او کوچني مقیاس کان کیندنې جوازونه او ټرونونه یوازې داخلي شرکتونو ته ورکول کېږي او د لوی مقیاس کانونو بولې کې هم که چېرې داوطلب بهرنی شرکت وي او داخلي شریک ولري، لومړیتوب همدې شرکت ته ورکول کېږي. همدارنګه، د کانونو د ټرونونو لپاره د بولۍ بهیر ساده او روڼ شوی او د مراجعینو خدمتونو لپاره یو ځانګړی ځای جوړ شوی، چې د وزارت د اړونده شعبو استازي په کې حاضر دي او له دې سره اداري بهیر چټک شوی او د وخت ضایع کېدو مخنیوی شوی دی، چې دا کار خصوصي برخو ته دا زمینه برابروي، چې په اسانه او ډاډه توګه د کانونو په ټرونونو کې برخه واخلي.

۵ـ پوښتنه: په وروستیو کلونو کې له خصوصي برخو سره کوم اړین ټرونونه شوي دي؟

ځواب: په وروستیو کلونو کې د افغانستان له خصوصي برخو سره یو شمېر اړین ټرونونه او هوکړې شوې دي، لکه:

د کندهار شوراندام، د پروان جبل السراج، د هرات زنده جان، د جوزجان یتیم تاق او د لوګر التمور د سمنټو پروژې، د پشتون زرغون اوسپنې پروژه، د جګدلک یاقوتو پروژه، د درزاب، میمنه او د اندخوی د مالګې کان، د تخار ولایت سمتي د سرو زرو پروژه، د کندهار د شاه ولي کوټ اتم بلاک مرمرو پروژه او د تخار د پیلګې زرشویې پروژه. دا ټول هغه ټرونونه دي، چې له خصوصي برخو سره لاسلیک شوي دي.

۶ـ پوښتنه: ایا د خصوصي شرکتونو ستونزو ته د وزارت له لورې پاملرنه کېږي؟

ځواب: وزارت هڅه کوي، چې د خصوصي برخو ستونزې واوري او د حل لپاره یې لازم اقدامات ترسره کړي. د دې لپاره د مراجعینو د خدمتونو لارښود نافذ او د مراجعینو خدمتونو لپاره یو واحد چټر رامنځته شوی دی، تر څو ستونزې په وخت حل شي او د شرکتونو فعالیتونه له خنډ پرته پر مخ ولاړ شي.

همدارنګه وزارت د دوی د ستونزو د غوښتنو په موخه په بېلابېلو انلاین سیستمونو کار کوي، چې د یادو سیستمونو له جملې څخه شاوخوا(۱۶) یې فعال دي او شرکتونه کولای شي په پوره روښتیا او ډاډ سره له اړونده سیستمونو څخه استفاده وکړي او خپلې غوښتنې او ستونزې له وزارت سره شریک کړي.

۷ـ پوښتنه: ایا وزارت د پانګوالو د جلبولو او پیاوړتیا لپاره کوم نوي پروګرامونه هم لري؟

ځواب: د کانونو او پټرولیم وزارت په وروستیو کلونو کې د پانګوالو د جلبولو او د خصوصي برخو پیاوړتیا لپاره یو شمېر نوي پروګرامونه او اصلاحات پلي کړي دي، وزارت د بهرنۍ او داخلي پانګوالو د جذب لپاره د پانګونې د هڅونې کړنلارې مسوده ترتیب کړې ده او د تائید لپاره یې د اسلامي امارت مشرتابه مقام ته استولې.

- د کورنیو او بهرنیو پانګوالو د جذب لپاره هڅې زیاتې شوي دي. وزارت له بېلابېلو ملکونو او شرکتونو سره اړیکې ټینګوي او هغوی ته بلنه ورکوي، چې د افغانستان د کانونو، نفت او ګازو په پروژو کې پانګونه وکړي. دا کار د دې لپاره کوي، چې فني تجربه، عصري ټکنالوژي او پانګونه ملک ته را جذب شي.
- پانګوالو ته د هڅونې ځانګړي امتیازات او اسانتیاوې برابرې شوي دي. لکه د اوږدمهالو ټرونونو ورکول، د جواز اخیستلو بهیر اسانه کول، او د اداري خنډونو کمول، چې دا ټول د پانګونې لپاره زمینه برابروي.
- وزارت د بولۍ(داوطلبۍ) سیستم روښانه او منظم کړی دی، تر څو ټول شرکتونه وکولای شي په عادلانه ډول ګډون وکړي. د فني او مالي ارزونې له لارې یوازې وړ او باصلاحیته شرکتونه ته ټرونونه ورکول شي، چې دا کار د پانګونې کیفیت ښه کوي.
- وزارت د کانونو د ارزښت لوړولو لپاره د پروسس برخو ته ځانګړې پاملرنه کوي، چې خام مواد د ملک دننه پروسس شي، تر څو عواید زیات شي او د کارموندنې فرصتونه رامنځته شي.
- وزارت د پروژو د ځارنې او ارزونې سیستم هم پیاوړی کړی دی، تر څو ډاډ ترلاسه کړي، چې پانګوال خپلې ژمنې عملي کوي او پروژې په سمه توګه پر مخ ځي.

په پایله کې، دا ټول پروګرامونه د دې لپاره دي، چې افغانستان د پانګونې لپاره یو مناسب، روښ او باوري ځای وګرځي، خصوصي برخې پیاوړې شي او د ملک اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره شي.



نقش معادن در اقتصاد
افغانستان

نویسنده: محمدشبیر "بشیری" استاد پوهنتون و تحلیلگر ارشد اقتصادی

مقدمه

افغانستان به عنوان مملکت سرشار از منابع طبیعی و ذخایر گسترده معدنی بوده که از ظرفیت‌های بزرگ اقتصادی برخوردار است. ذخایر معدنی این مملکت شامل: مس، آهن، زغال‌سنگ، نفت و گاز، طلا، لیتیوم، سنگ‌های قیمتی و نیمه‌قیمتی عناصر نادر خاکی می‌باشد که می‌توانند نقش تعیین‌کننده در رشد و توسعه اقتصاد داخلی ایفا کند. در شرایطی که اقتصاد افغانستان بیشتر متکی به تجارت و کمک‌های خارجی بوده، توسعه و استخراج مسلکی معادن می‌توانند زمینه‌ساز ایجاد اقتصاد تولیدی، افزایش درآمد داخلی، اشتغال‌زایی و تقویت زیر ساخت‌های مملکت گردد. بخش‌های معادن علاوه بر ایجاد فرصت‌های شغلی مستقیم و غیرمستقیم، ظرفیت آن را دارد که سرمایه‌گذارهای داخلی و خارجی را جذب نموده و زمینه توسعه صنایع وابسته را فراهم سازد. همچنان عواید ناشی از استخراج معادن می‌تواند در تمویل پروژه‌های زیربنایی، توسعه انرژی، ترانسپورت و رفاه اجتماعی مورد استفاده قرار گیرد. با این حال، بهره برداری مؤثر از این منابع نیازمند مدیریت سالم، شفافیت اداری، امنیت، قوانین منظم و برنامه‌ریزی استراتژیک می‌باشد تا از هدر رفتن منابع طبیعی و وابستگی جلوگیری شود.

از اینرو بررسی نقش و مفاد اقتصادی معادن افغانستان یکی از موضوعات اساسی برای شناخت ظرفیت‌های اقتصادی پایدار و خودکفایی اقتصادی مملکت به شمار می‌رود.

توسعه ممالک در ابعاد مختلف با اسباب و وسایل گوناگون تا امروز در تاریخ بشر صورت گرفته و توسعه اقتصادی یکی از اهداف اساسی تمامی ممالک در جهان معاصر به شمار می‌رود. برای رسیدن به توسعه پایدار مراحل مختلف از جمله‌گذار از بحران، رشد اقتصادی و زیربناسازی را طی می‌کنند. در این میان درک تفاوت میان رشد اقتصادی و توسعه اقتصادی از اهمیت ویژه برخوردار است.

وقتی مستقیم روی توسعه بحث را متمرکز نمودم یعنی اینکه هدف تمام استراتیژی‌های سیاسی، اقتصادی و زیربنائی توسعه پایدار ممالک می‌باشد یک مملکت توسعه یافته مراحل مختلف را جهت رسیدن به توسعه پایدار طی می‌نماید از آن جمله می‌توان گفت مرحله‌گذار از بحران، مرحله رشد و مرحله زیربنا سازی هر مرحله قدم به قدم ممالک را به توسعه پایدار نزدیک می‌کند بنابر این، ابعاد اسباب و وسایل در جهت‌گذار از مراحل مختلف و رفتن به سوی توسعه پایدار کمک‌های استراتیژیک را در این راستا انجام می‌دهند، در جمع‌گذار از مراحل مختلف از مرحله رشد یادآوری گردید، تفاوت رشد نمودن در حوزه اقتصادی با توسعه در چیست؟ رشد مرحله گسترش کمی یا عددی در اقتصاد داخلی بوده و افزایش کمی تولید و درآمد یک مملکت در طول زمان یک سال را نشان می‌دهد که معمولاً با شاخص‌های مثل تولید ناخالص داخلی جی دي پی(GDP) سنجیده می‌شود به طور مثال اگر تولید یک مملکت از(۱۰۰ عدد به ۱۲۰) عدد کالا در طول یکسال برسد می‌گویم رشد اقتصادی صورت گرفته اگرچه وضعیت زندگی مردم تغییر چندانی نکرده باشد، در مقاله هذا تحت عنوان نقش معادن در اقتصاد افغانستان سعی گردیده تا تاثیرات مثبت آنرا نه تنها بالای رشد اقتصادی بلکه اهمیت راهبردی معادن و منابع زیر زمینی افغانستان را در جهت رسیدن به توسعه پایدار نیز مورد بررسی قرار دهد.

هر پدیده که بالای تعاملات اقتصادی اثر مثبت داشته باشد باعث رشد چرخش اقتصادی می‌گردد، تا امروز بشریت تلاش نموده تا با ابعاد مختلف اسباب و وسایل حرکت‌های اقتصادی را در جهت رشد و توسعه در تمام ممالک خود را به طرف توسعه پایدار سوق دهند، بنابر این تا اینجا با مرحله رشد آشنا گردیدیم حالا توسعه چیست؟ چرا هدف نهائی است و چرا مرحله رشد تمرکز به افزایش کمی تولید و درآمد دارد و بیخیال تغییر آنچنانی در وضعیت زندگی مردم است جواب این سوال‌ها را تعریف توسعه ارایه می‌دارد و اینکه چرا مرحله رشد تمرکز بالای تغییر در زندگی مردم ندارد مفهوم‌گذار از مراحل مختلف جهت رسیدن به توسعه پایدار را واضح‌تر می‌سازد، توسعه در اقتصاد مفهوم گسترده‌تر دارد و بهبود دهنده کیفی زندگی انسان‌ها در کنار رشد اقتصادی می‌باشد یعنی، فقط پول بیشتر مهم نیست بلکه اینها هم مهم اند:

- کاهش فقر،
- بهبود آموزش و صحت،
- عدالت اجتماعی،
- ایجاد فرصت‌های برابر،
- تقویت نهادها،
- انکشاف متوازن.

توسعه مفهوم ساده نیست که فقط به رشد تولید، پول و اقتصاد محدود شود بلکه یک روند چند بُعدی است که کیفیت زندگی انسان‌ها را در ابعاد مختلف بهبود می‌بخشد در حوزه توسعه اقتصاد، معمولاً به این معنی است که یک جامعه می‌تواند:

- درآمد و تولید خود را افزایش دهد(رشد اقتصادی)،
- فقر و نابرابری را کاهش دهد،
- دسترسی به آموزش، صحت و خدمات اساسی،
- نهادهای سیاسی و اجتماعی کارآمدتر بسازد،
- آزادی‌ها و فرصت‌های انسانی را گسترش دهد.

و یکی از دیدگاه‌های مهم را که دانشمند هندی(آمارتیاسن) ارایه کرده است او توسعه را صرفاً افزایش درآمد نمی‌داند بلکه آنرا گسترش قابلیت‌های انسانی می‌داند یعنی اینکه انسان‌ها بتوانند زندگی را انتخاب کنند که ارزش آنرا داشته باشد، همچنان سازمان‌های مانند: برنامه توسعه سازمان ملل متحد شاخص‌های توسعه انسانی را معرفی کرده است که شامل سه بُعد اصلی عمر طولانی و سالم، سطح آموزش و درآمد مناسب را دربر می‌گیرد به طور خلاصه توسعه یعنی بهبود واقعی زندگی انسان‌ها نه فقط بزرگ شدن اعداد اقتصادی که باعث گسترش توانائی‌های واقعی انسان‌ها برای انتخاب نوع زندگی شان گردد، توسعه روند گسترش کیفی و همه جانبه در تمام ابعاد زندگی انسان‌ها بوده و رشد گسترش کمی در تعاملات و حرکت‌های اقتصادی می‌باشد، حالا سوال‌های مطرح شده و اهمیت مفاهیم‌گذار از مراحل مختلف تا رسیدن به توسعه پایدار در توضیح روند توسعه روشن گردید چرا مرحله رشد به تغییر وضعیت زندگی مردم توجه ندارد چون تغییر کیفیت زندگی مردم در مرحله روند توسعه باید محقق گردد و چرا مراحل‌گذار یکی پی هم به گونه استراتیژیک باید سپری شوند چون برای رسیدن به توسعه پایدار، پایداری توسعه ممالک بستگی به سپری نمودن اساسی و راهبردی مراحل‌گذار دارد همه مراحل باید به طور اساسی طی شوند مانند: گذار از(بحران، رشد اقتصادی و زیربناسازی) تا توسعه پایدار باقی بماند.

روند توسعه و رسیدن به آن زندگی انسان‌ها را به لحاظ تأمینات اجتماعی، اقتصادی، سیاسی و فرهنگی که در حقیقت چهار بُعد توسعه هستند تأمین، تضمین و بیمه می‌نماید. وقتی گفتیم توسعه ممالک در ابعاد مختلف با وسایل و اسباب گوناگون تا امروز در تاریخ بشر صورت گرفته است، بنابراین واضح گردید که با کدام ابعاد می‌توان به توسعه رسید چهار بُعد پایه و اساس توسعه(سیاست، اقتصاد، اجتماع و فرهنگ) نشان می‌دهد که گسترش کیفی آن‌ها توسعه می‌باشد و زندگی انسان‌ها را در ابعاد مختلف بهبود می‌بخشد، درباره اسباب و وسایل با یک مثال ساده موضوع را به کنکاش می‌گیرم مثلاً: فرض کنید یک مملکت نفت پیدا کند اگر فقط درآمدش زیاد شود در طول یک سال شاهد رشد اقتصادی می‌باشد ولی اگر این درآمد را صرف آموزش، صحت، اشتغال و رفاه مردم نماید به توسعه می‌رسد یعنی رشد بزرگ شدن اقتصاد و توسعه بهتر شدن زندگی مردم است.

چرا با ارایه مثال بالا که در مورد درآمد نفت است و می‌تواند اقتصاد را بزرگ کند و باعث رشد اقتصادی گردد در باب معادن و منابع زیر زمینی افغانستان موضوع توسعه را نیز مطرح نموده‌ام چون معادن و منابع طبیعی تنها کورسوی امید برای توسعه افغانستان پنداشته می‌شود. وقتیکه توسعه در ممالک جهان با ابعاد و اسباب مختلف صورت گرفته است این ابعاد می‌تواند منابع و معادن باشد یا مثل منابع انسانی و تکنالوژی باشد مملکت جاپان و یا هم مانند ممالک خاورمیانه که با درآمدهای نفتی توسعه را به میان آورده اند و همچنان اسباب آن تکنالوژی، صنایع، زراعت، تولید و منابع طبیعی می‌تواند باشد اما همه ممالک اسباب را که ذکر نمودم در دسترس ندارند بخصوص منابع طبیعی در جغرافیای بعضی ممالک به گونه وافر یافت نمی‌شود که مثال زنده آن هم در جهان مملکت جاپان بوده می‌تواند جاپان حتی یک بیلر نفت ندارد ولی سطح توسعه آن نسبت به مملکت عربستان که دومین مملکت نفتی جهان بعد از ونزوئلا است بالاتر می‌باشد و پاسپورت جاپان در ردیف ده پاسپورت برتر جهان همیشه قرار دارد این سطح توسعه جاپان مدیون علم، منابع انسانی و تکنالوژی است، بنابراین وقتی ابعاد توسعه سیاسی، اجتماعی، فرهنگی و اقتصادی باشد روی این ملحوظ بعضی مملکت در بُعدهای فرهنگی، سیاسی و اجتماعی به توسعه رسیده اند و این ابعاد متضمن مستقبل توسعه بُعد اقتصادی نیز گردیده است.

چرا برای افغانستان معادن و منابع طبیعی تنها کورسوی امید است امکان دارد بعد از مصرف نمودن معادن افغانستان همچنان سطح توسعه مملکت مانند: عربستان نسبت به جاپان پائین‌تر باشد و حتی بعضی ممالک با مصرف منابع همچنان در فقر بسر می‌برند مانند ونزوئلا که همان کورسوی امید هم با مدیریت ضعیف و فساد ضایع می‌شود و به توسعه اقتصادی نمی‌رسد و همچنان اگر منابع صرف بزرگ شدن اعداد اقتصادی باشد فقط رشد اقتصادی رقم می‌خورد و کیفیت زندگی مردم بالا نمی‌رود ولی اگر در پهلوی رشد اقتصادی صرف کیفیت زندگی انسان‌ها شود در حقیقت مراحل گذار به ترتیب و منظم طی می‌شوند و مملکت به توسعه پایدار که شاخص‌های آن ذکر گردیده با بلند رفتن کیفیت در زنده گی مردم می‌رسد.

اینکه معادن و منابع اقتصادی افغانستان می‌تواند در صورت استخراج و پروسس در داخل باعث رشد اقتصادی در یک سال به طوری چشم‌گیر گردد یک امر قابل تطبیق بوده و خیلی پیچیده به نظر نمی‌رسد اگر منابع استخراجی همه در فابریکات داخلی پروسس گردد دامنه اشتغال‌زائی در مملکت گسترش می‌یابد توده‌های بیکار صاحب درآمد می‌شوند به تدریج فقر کاهش یافته و تعداد فابریکات پروسس معادن در صورت دسترسی داشتن به مواد خام به لحاظ کمی افزایش می‌یابد. تراکم سرمایه‌گذاری‌ها با سیاست‌های تشویقی دولت در بخش معادن افزایش می‌یابد و در کل منجر به بزرگ شدن اعداد اقتصادی و رشد اقتصاد یک مملکت در طول یک سال می‌شود اما اگر درآمد معادن صرف روند توسعه گردد کیفیت زندگی مردم نیز تغییر می‌کند چون نظر به تیوری(آمارتیاسن) اقتصاددان هندی افزایش درآمد به تنهائی در جهت تغیر کیفیت زندگی انسان‌ها کافی نیست باید عدالت اجتماعی نیز تحقق گردد.

پس با منابع دست داشته نه تنها اقتصاد افغانستان می‌تواند به لحاظ کمی بزرگ شود بلکه توسعه پایدار نیز قابل تطبیق است اگر با استخراج و پروسس معادن در داخل افغانستان به توسعه پایدار دست نه یابیم ابعاد دیگری که از آن یادآوری شده خیلی زمان‌گیر بوده و روند توسعه را در افغانستان کند می‌سازد اینجاست که اهمیت واژه کورسوی امید منابع طبیعی و معادن مملکت در یک فضای مدیریتی سالم و بدور از فساد در جهت رسیدن به توسعه پایدار با مفهوم کلی آن در تمام ابعاد زندگی انسان افغانستان

عمیقاً درک می‌شود بنابراین نقش معادن در اقتصاد افغانستان را در حوزه رشد اقتصادی که خود یک مرحله‌گذار به‌طرف توسعه پایدار است به طوری مفهومی می‌توان از نقطه نظر تاثیر استخراج و استفاده از معادن در اقتصاد داخلی افغانستان مورد پژوهش قرار داد که خوشبختانه افغانستان دارای منابع معدنی بسیار بزرگ مانند: مس، آهن، لیتیوم، طلا و سنگ‌های قیمتی و نیمه قیمتی می‌باشد اگر این منابع درست مدیریت شود، مملکت را از بحران مالی نجات داده و بسوی استقلالیت مالی سوق دهد که می‌تواند به موارد ذیل اشاره نمود.

افزایش درآمد دولت

معادن می‌تواند منبع بزرگ مالیاتی و عواید باشند فروش مواد معدنی(خام یا فراوری شده) درآمد داخلی را بالا می‌برد یعنی دولت پول بیشتر برای خدمات(تعلیم، صحت و امنیت) بدست می‌آورد که همانا مراحل توسعه هستند.

ایجاد اشتغال

استخراج معادن به کارگر، انجنیر، تخنیکر و خدمات نیاز دارد هزاران شغل مستقیم وغیرمستقیم ایجاد می‌شود و باعث کاهش بیکاری در ممالک می‌گردد.

رشد صنعت و تولید

در صورتیکه معادن مملکت خام فروخته نشود بلکه در داخل پروسس گردد فابریکات ایجاد می‌گردد ارزش مواد بالا می‌رود به گونه مثال: اگر مس به‌گونه خام فروخته شود قیمت آن ارزانتر می‌باشد ولی اگر تصفیه گردد ارزش آن چند برابر افزایش می‌یابد.

توسعه زیر ساخت‌ها

برای استخراج معادن لازم است شرکت‌ها ساخته شود، برق تولید شود و خط آهن ایجاد شود که این زیر ساخت‌ها تمام اقتصاد را فعال می‌کند نه فقط بخش معدن را.

جذب سرمایه‌گذار خارجی

معادن بزرگ مثل مس عینک یا لیتیوم توجه شرکت‌های خارجی را جذب می‌کند که باعث وارد شدن سرمایه و تکنالوژی در مملکت می‌شود.

بهبود توازن تجارتی

افغانستان فعلاً با کسر توازون تجارتی مواجه است و بیشتر وارد کننده بوده نه صادر کننده، صادرات معادن می‌تواند وضعیت تجارتی مملکت را بهتر بسازد.

مزیت‌ها و مفاد معادن در صورت مدیریت درست می‌تواند افغانستان را در زمره ممالک در حال توسعه جهان قرار دهد اما اگر مدیریت ضعیف باشد خطرات و چالش‌ها می‌تواند بروز کند مانند: فساد اداری، استخراج غیر قانونی، تخریب محیط زیست وابستگی بیش از حد به مواد خام و این چالش‌ها می‌تواند حتی اقتصاد را آسیب بزند، اگر معادن افغانستان درست مدیریت شود می‌توانند به موتور اصلی رشد اقتصادی مملکت تبدیل شوند اما در صورت عدم مدیریت درست تنها مواد خام خارج و فقر باقی می‌ماند و در نهایت توسعه واقعی زمانی تحقق می‌یابد که عواید حاصل از معادن به بهبود کیفیت زندگی تمامی شهروندان منجر گردد، نه صرفا افزایش ارقام اقتصادی.

نتیجه گیری

معادن افغانستان یکی از مهم ترین سرمایه‌های داخلی و زیربنایی بالقوه رشد اقتصادی مملکت محسوب می‌شود. استفاده درست و علمی از این منابع می‌تواند افغانستان را از یک اقتصاد مصرفی و تجارتی به سوی یک اقتصاد تولیدی و صنعتی سوق دهد. استخراج و مدیریت سالم معادن نه تنها سبب افزایش عواید امارت اسلامی می‌گردد، بلکه زمینه اشتغال‌زایی، کاهش فقر، توسعه صنایع داخلی و بهبود وضعیت زیربنایی‌های اقتصادی را نیز فراهم می‌سازد.

افغانستان به داشتن ذخایر بزرگ معدنی، توانایی آنرا دارد که به یکی از مراکز مهم اقتصادی منطقه تبدیل گردد؛ اما تحقق این هدف نیازمند ایجاد امنیت، حاکمیت قانون، مبارزه با فساد، مدیریت شفاف قراردادها و جلب سرمایه‌گذاری‌های مؤثر داخلی و خارجی است. همچنان امارت اسلامی باید عواید معدنی را به گونهٔ مدیریت نماید که در راستای توسعه پایدار، رفاه عمومی و تقویت زیربناهای اقتصادی مملکت به مصرف برسد. در نهایت، معادن می‌تواند به عنوان موتور محرک اقتصادی داخلی افغانستان عمل کند؛ مشروط براینکه استخراج و بهره برداری از آن بر اساس منافع داخلی، برنامه‌ریزی اقتصادی و اصولی توسعه پایدار صورت گیرد.

منابع

۱ـ بانک جهانی، گزارش توسعه اقتصاد افغانستان.
۲ـ صندوق بین‌المللی پول، ارزیابی وضعیت اقتصادی افغانستان.
۳ـ اداره احصائیه و معلومات افغانستان، آمار و ارقام اقتصادی و معدنی.
۴ـ کتاب اقتصاد طبیعی و توسعه پایدار.



د مس عینک پروژې د فرصتونو او پرمختګونو په اړه

د مس عینک له رئیس سره مرکه

۱ـ پوښتنه: د مس عینک پروژې په اړه لنډ او عمومي معلومات شریک کړئ؟

ځواب: د مس عینک کان، چې د نړۍ په کچه د مسو له بډایه او سترو کانونو څخه ګڼل کېږي د افغانستان، لوګر ولایت په محمد اغې ولسوالۍ کې موقعیت لري. د نوموړي کان ارزښت یواځې په کاني شتمنۍ پورې محدود نه دی بلکې د ملک د اقتصادي ودې، صنعتي پـرمختګ او د خلکو د ژوند د ښه والي لپاره ځانګړی ارزښت لري. په همدې بنسټ له دې ستر کان څخه د ګټې اخیستنې په موخه د افغانستان دولت په استازولۍ د کانونو او پټرولیـــــم وزارت او د چین ولسي جمهوریت د (MCC) کمپنۍ، چې اوس مهال د(MJAM)کمپنۍ په نوم سره یادیږي ترمنځ د کان کیندنې ټرون په(۲۰۰۸) میلادي کال کې لاسلیک شوی دی.

۲ـ پوښتنه: اوس مهال د مس عینک پروژه په کوم پراو کې شتون لري؟

ځواب: د مس عینک د کان کیندنې ټرون له مخې د پروژې اړوند چارې باید اوس مهال په تولیدي پراو کې وی خو د(MJAM) کمپنۍ له لوري د پروژې د اړوندو چارو ځنډولو له امله نوموړې پروژه اوس هم په ودانیز پراو کې شتون لري. د کان کیندنې ټرون له مخې کمپنۍ مکلفه ده، چې ودانیز پراو د(۶۰) میاشتو په موده کې ترسره کړي.

۳ـ پوښتنه: د مس عینک پروژې زېرمې څومره اټکل شوي دي؟

ځواب: د مس عینک کان په خپل جوړښت کې څلور سترې(مرکزي، غربي، دربند او جوهر) مسي زېرمې لري. د دغو زېرمو له ډلې د مرکزي او غربي برخو بشپړ او تفصیلي اکتشاف ترسره شوی، چې د شته معلوماتو له مخې پکې د مسو اندازه شاوخوا(۱۲،۴) دولس اعشاریه څلور میلیونه ټنه اټکل شوې ده.

۴ـ پوښتنه: د مس عینک پروژې اقتصادي ارزښت څه دی؟

ځواب: د مس عینک کان پراخه زېرمې کولای شي افغانستان د نړۍ د مسو د صادروونکو ملکونو په کتار کې ودروي او ملک تـــه د پام وړ اقتصادي فرصتونه برابر کړي. د کانونو او پټرولیم وزارت ټمه لري، چې د نوموړي کان په استخراج سره به د افغانستان اسلامي امارت عواید تر سلګونو میلیونو ډالرو لوړ شي. د کان کیندنې ټرون له مخې به نوموړي عواید د امتیازاتو او مالیاتو په وسیله ترلاسه او د داخلي بودجې له لارې به د ملک

د اقتصادي ثبات سبب وګرځي. سربېره پر دې به دغه پروژه کې زرګونو خلکو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول کاري فرصتونه رامنځته کړي، چې د بېکارۍ د کچې په راکمولو کې به اغېزناک او اړینه ونډه ولري.

۵ـ پوښتنه: په دغې پروژې کې څومره تاریخي اثار کشف شوي او د استخراج پر مهال د دغو اثارو د ساتنې لپاره کوم کارونه په پام کې نیول شوي دي؟

ځواب: د مس عینک پروژه کې بېلابېل لرغوني اثار کشف شوي دي، چې د نومورو اثارو د ساتنې او د پروژې د چارو د چټکوالي په موخه د کان کیندنې ټرون له احکامو سره سم لازم تدابیر نیول شوي دي هغه دا، چې په استخراجي چارو کې د سر خلاصي کان کیندنې تګ لارې پر ځای د ځمکې لاندې تګ لارې څخه ګټه اخیستل کېږي. په دې ترتیب سره پرته له دې، چې د کان کیندنې چارو کې خنډ او ځنډ رامنځته شي لرغوني اثار په خپل اصلي حالت پاتې کېږي.

۶ـ پوښتنه: اوس مهال په دغې پروژې کې څومره خلکو ته کاري فرصتونه برابر شوي دي او راتلونکې کې به دا شمېر څومره کسانو ته لوړ شي؟


ځواب: اوس مهال په دغه پروژه کې شاوخوا(۲۰۰) تنو افغان کار کوونکو ته د کار زمینه برابره شوې ده. ټمه کېږي، چې د کان کیندنې د بشپړ پیل وروسته به د افغان کار کوونکو شمیر(۳۵۰۰) تنو ته ورسیږي.

۷ـ پوښتنه: قراردادي شرکت د چاپېریال ساتنې او ټولنیزه برخه کې کومې ژمنتیاوې لري. او تراوسه یې په دغه برخه کې خپلې کومې ژمنتیاوې عملي کړي دي؟

ځواب: د کان کیندنې د ټرون له مخې د چاپېریال ساتنې په برخه کې د(MJAM) کمپنۍ ګڼ مکلفیتونه لري. یاده کمپنۍ مکلفه ده، چې د افغانستان د چاپېریال ساتنې قوانین او مقررات، د ټولنیزو او چاپېریال ساتنې پالیسیو لارښودنه، د نړیوال بانک چاپېریال ساتنې پالیسۍ او د ایکواتور اصول مراعات کړي. د دې ترڅنګ، دا هوکړه هم شتون لري چې که د قوانینو او پالیسیو ترمنځ کوم تناقض رامنځته شي، نو د افغانستان د چاپېریال او خلکو د ساتنې لپاره به تر ټولو سخت او اغېزمن معیار ته لومړیتوب ورکړل شي.

سره له دې، چې تراوسه د چاپېریال ساتنې په برخه کې عملي کار نه دی ترسره شوی، خو د نومورې ټرون له مخې یاده کمپنۍ مکلفه ده، چې د مس عینک پروژې لپاره د چاپېریالي او ټولنیزو اغېزو ارزونې راپور(ESIA) او د چاپېریال ساتنې مدیریتي پلان(EMP) چمتو کړي، چې دا راپور به له بشپړېدو وروسته د کانونو او پترولیم وزارت له لارې د افغانستان د چاپېریال ساتنې داخلي اداري ته د ارزونې او تصویب لپاره وسپارل شي.





میراث پوهنه؛ جامع او اسانه لارښود

لیکوال: مولوي میر محمد نبي "برهاني"
د ټاپي پروژې حقوقي کارپوه

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ وَكَفَى، وَسَلَامٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفَى، أَمَّا بَعْد:

سریزه

د میراث علم او د هغه دیني ارزښت

د میراث علم، چې په اسلامي شریعت کې د(علم الفرائض) په نوم یادېږي، د اسلام له اړینو او غوره علومو څخه دی؛ تر دې چې په احادیثو کې د خپل ستر ارزښت له امله(نصف العلم) بلل شوی دی.

دا علم د انسان د ژوند یوه حیاتي اړتیا پوره کوي او د عدل، انصاف او حقونو د خوندیتوب بنسټ جوړوي. د دې علم په عملي کولو سره د ظلم، حق تلفۍ او د شخړو مخه نیول کېږي، عدالت ټینګېږي او د وګړو او ټولنې حقوق خوندي پاتې کېږي. همدارنګه د مسلمان دیني پوهه پیاوړې کوي او د ټولنې د اقتصادي نظم په ساتنه کې اړینه ونډه لري؛ ځکه چې د دې په تطبیق سره د متوفي مالونه د ځانګړو شرعي اصولو او دقیقو حسابونو له مخې وارثانو ته په عادلانه ډول رسېږي.

قرآن کریم د میراث برخې په څرګند ډول بیان کړی دی؛ نو څوک چې دا علم زده کوي او عمل پرې کوي، د الله‌تعالی حکم پر ځای کوي؛ برعکس له دې اصولو سرغړونه د ظلم، اختلاف او ګډوډۍ لامل ګرځي او د ټولنې نظم له خطر سره مخ کوي، ځکه د میراث ناسم وېش د کورنیو او ټولنې په کچه شخړې او ستونزې رامنځته کوي.

د فرائضو علم یوازې د میراث تر وېش پورې محدود نه دی، بلکې له نورو شرعي برخو؛ لکه نکاح، بیع، عقدونو او ځینو مالي او حقوقي احکامو سره هم تړاو لري. له همدې امله، په دې علم پوهه د اسلامي علومو د سم او ژورې پوهې لپاره ډېره اړینه ده.

لنډه دا چې د میراث علم د شریعت له بنسټیزو علومو څخه ده، چې عدالت تضمینوي، د الله‌تعالی د اطاعت وسیله ګرځي او د ټولنیز او مالي نظم په ساتنه کې اړینه ونډه لري. دا علم نه یوازې د خلکو حقونه خوندي کوي، بلکې د اسلامي ارزښتونو د عملي کولو او د ځینې نورو علومو د سمې پوهې لپاره یو اړین بنسټ ګڼل کېږي.

دې علم ته د(نصف العلم) نوم د څو لاملونو له امله ورکړل شوی دی: ۱ـ د دې علم زده کړه ډېر اجر لري؛ ویل کېږي، چې د میراث د یوې مسئلې په زده کړې سره الله‌تعالی بنده ته(۱۰۰) اجره ورکوي، حال دا، چې د فقهي د یوې مسئلې په زده کړې(۱۰) اجره ورکول کېږي؛ نو د اجر له پلوه نیم علم

بلل شوی دی. ۲ـ د دې احکام ټول انسانان رانغاړي؛ ځکه هر څوک یا میراث وړي او یا تري میراث وړل کېږي نو ارزښت یې د نورو علومو سره برابر دی. ۳ـ انسان دوه حالتونه لري: ژوند او مرګ؛ د میراث علم هغه احکام بیانوي، چې د انسان تر وفات وروسته د مالونو د لېږدولو لپاره ټاکل شوي دي. ۴ـ میراث د ټولنې د شتمنیو د وېش او اقتصادي بهیر اړین بنسټ دی، چې اسلام پرې ځانګړی ټینګار کړی دی. ۵ـ د میراث برخه دقیق او محاسبه شوي قواعد لري او د هر وارث حق په قوي دلایلو ثابت شوی دی؛ اللهتعالی د میراث د حقونو له بیان وروسته فرمایي:(فَرِيضَةً مِنَ اللَّه) له همدې امله دې علم ته(علم الفرائض)(د فرائضو علم) او د(علومو مخکښ) لقب هم ورکړل شوی دی. علماوو نور دلیلونه هم ذکر کړي دي خو دلته همدومره بسنه کوي.

تعریف: د فرائضو علم هغه علم دی، چې د میراث احکام پکې بیانېږي.

د میراث اسباب(لاملونه): ۱ـ نسب(خپلوي او د وینې اړیکه). ۲ـ نکاح(مېرمن او مېړه والی). ۳ـ ولاء(ازادول/عتق).

د میراث موانع(خنډونه): ۱ـ رق(غلامي). ۲ـ په ناحقه قتل(ناحقه وژنه). ۳ـ د دین اختلاف(د دین بېلوالی). ۴ـ د دار اختلاف(د ملک اختلاف) د څلورمې مادې تفصیل د فقهي له کتابونو څخه لاسته‌راوړئ.

د مړي تجهیز(سمبالښت): د مړي د کفن او دفن لګښت لومړی د هغه له خپل مال څخه کېږي. که هغه مال ونه لري، نو پر هغو کسانو واجب دی، چې د هغه نفقه یې د ژوند پر مهال پر غاړه وه. که هغوی هم ونه توانېږي، نو پر حاضرو مسلمانانو وي. که هغوی هم ونه توانېږي، نو د بیت‌المال له خوا به کېږي او که بیت‌المال نه وي، بیا پر مسلمانانو دی(د کفایه فرض په توګه).

په ترکه کې د حقونو ترتیب: ۱ـ د مړي تجهیز او دفن. ۲ـ د پورونو ادا کول. ۳ـ د وصیت عملي کول، تر هغه حده، چې له درېیمې برخې(ثلث) زیات نه وي. ۴ـ پاتې مال په وارثانو وېشل.

ذووالفروض: له نارینه وو څخه د فرض(ټاکلې برخې) وارثان څلور دي:

۱ـ د پلار درې حالتونه دي: ۱ـ شپږمه برخه(سدس) اخلي، کله چې زوی یا د زوی زوی(که هر څومره ښکته هم وي) موجود وي. ۲ـ هم فرض او هم عصبه(یعنې ټاکلې برخه او پاتې برخه اخلي)، کله چې لور یا د زوی لور(که هر څومره ښکته هم وي) موجوده وي. ۳ـ یوازې عصبه کېږي(یعنې پاتې مال اخلي)، کله چې هېڅ اولاد نه وي(که هر څومره ښکته هم وي).

۲ـ د صحیح نیکه(جد صحیح) څلور حالتونه دي: ۱ـ د پلار په موجودیت کې ساقطېږي(میراث نه وړي). ۲ـ شپږمه برخه(سدس) اخلي، کله چې زوی یا د زوی زوی(که هر څومره ښکته هم وي) موجود وي. ۳ـ هم فرض او هم عصبه کېږي، کله چې لور یا د زوی لور موجوده وي(که هر څومره ښکته هم وي). ۴ـ یوازې عصبه کېږي، کله چې هېڅ اولاد نه وي(که هر څومره ښکته هم وي). او پلار د نیکه په شان دی، مګر په دوو مسئلو کې توپیر لري: ۱ـ د مور د برخې په کمولو کې: کله چې په میراث وړونکو کې ښځه یا میړه موجود وي نو" پلار، د مور برخه د ټول مال له درېیمې برخې(ثلث الجمیع) څخه د پاتې مال درېیمې برخې(ثلث ما بقی) ته راکموي، خو نیکه دا کار نه کوي. ۲ـ د پلار د مور په حجب(محرومولو) کې: پلار خپل مور له میراث وړلو څخه محرومووي، خو نیکه د پلار مور نه شي محرومولای.

۳ـ د اخیافي(د مور له لوري؛ ورور وي که خور) درې حالتونه دي: ۱ـ که یو وي، شپږمه برخه(سدس) اخلي تکلمه للثلثین. ۲ـ که دوه یا زیات وي، نو ټول په ګډه درېیمه برخه(ثلث) اخلي. ۳ـ د اولاد، پلار او نیکه په شتون کې ساقطېږي(میراث نه وړي).

۴ـ د مېړه(زوج) دوه حالتونه دي: ۱ـ نیمه برخه(نصف) اخلي، کله چې هېڅ اولاد نه وي(که هر څومره ښکته هم وي). ۲ـ څلورمه برخه(ربع) اخلي، کله چې اولاد موجود وي(که هر څومره ښکته هم وي).

او له ښځو څخه(د فرض وارثان) اته دي:

۱ـ د ښځې(مېرمن/زوجة) دوه حالتونه دي: ۱ـ څلورمه برخه(ربع) اخلي، کله چې هېڅ اولاد نه وي(که هر څومره ښکته هم وي). ۲ـ اتمه برخه (ثمن) اخلي، کله چې اولاد موجود وي(که هر څومره ښکته هم وي).

۲ـ اصلي لور(بنت صلبیة) درې حالتونه لري: ۱ـ که یوه وي، نیمه برخه(نصف) اخلي. ۲ـ که دوه یا زیاتې وي، نو ټولې په ګډه دوه پر درېیمې(ثلثان) اخلي. ۳ـ د زوی په شتون کې عصبه کېږي(یعنې له زوی سره پاتې مال ویشي د لور یوه برخه او د ځوی دوه برخې).

۳ـ د زوی لور(بنت الابن)، که هر څومره ښکته هم وي، شپږ حالتونه لري: ۱ـ که یوه وي، نیمه برخه(نصف) اخلي. ۲ـ که دوه یا زیاتې وي، نو ټولې

په ګډه دوه پر درې(ثلثان) اخلي. ۳ـ له یوې اصلي لور سره شپږمه برخه(سدس) اخلي. ۴ـ که د هغې په کچه یا تر هغې شکته د زوی اولاد(هلک) وي، نو عصبه کېږي. ۵ـ د زوی په شتون کې ساقطېږي(میراث نه وړي). ۶ـ د دوو اصلي لونو په شتون کې محجوبه کېږي(میراث نه وړي).

۴ـ سکنې خور(أخت شقيقة) پنځه حالتونه لري: ۱ـ که یوه وي، نیمه برخه(نصف) اخلي. ۲ـ که دوه یا زیاتې وي، نو ټولې په ګډه دوه پر درې(ثلثان) اخلي. ۳ـ د سکني ورور سره عصبه کېږي. ۴ـ له لونو یا د زوی له لونو سره عصبه کېږي. ۵ـ د زوی، د زوی د زوی، د پلار او د نېکه په شتون کې ساقطېږي.


۵ـ د پلار له لوري خور(أخت لأب) اووه حالتونه لري: ۱ـ که یوه وي، نیمه برخه(نصف) اخلي. ۲ـ که دوه یا زیاتې وي، نو ټولې په ګډه دوه پر درې(ثلثان) اخلي. ۳ـ د پلار له لوري ورور سره عصبه کېږي. ۴ـ له یوې سکنې خور سره شپږمه برخه(سدس) اخلي. ۵ـ د دوو سکنیو خوېندو په شتون کې ساقطېږي. ۶ـ له لونو یا د زوی له لونو سره عصبه کېږي. ۷ـ د زوی د زوی زوی، سکني ورور او د پلار په شتون کې په اتفاق ساقطېږي او د نېکه په شتون کې یې ساقطېدل اختلافي ده.

۶ـ د مور له لوري خور(أخت لأم) درې حالتونه لري؛ چې په اخیافي(نمبر۳) کې ذکر شوي، ځکه اخیافي کې نر او ښځه مساوي برخه اخلي.

۷ـ د مور(أم) درې حالتونه دي: ۱ـ شپږمه برخه(سدس) اخلي، کله چې اولاد موجود وي(که هر څومره شکته هم وي)، یا کله چې دوه یا زیات ورونه او خوېندې موجود وي(له هرې خوا چې وي). ۲ـ د ټول مال درېیمه برخه(ثلث الجميع) اخلي، کله چې پورته کسان موجود نه وي. ۳ـ د پاتې مال درېیمه برخه(ثلث ما بقى) اخلي، د یو له مېړه یا ښځې د فرض له ورکولو وروسته، کله چې د مړي پلار ورسره وي؛ دا په دوو حالتونو کې وي:

۱ـ مېړه او دواړه والدین. ۲ـ ښځه او دواړه والدین. نو مور د مېړه یا ښځې له برخې وروسته د پاتې مال درېیمه برخه اخلي. او که د پلار پر ځای نېکه وي، نو مور د ټول مال درېیمه برخه اخلي.

۸ـ د نیا(جدة) دوه حالتونه دي: ۱ـ شپږمه برخه(سدس) اخلي، که د پلار له لوري وي یا د مور له لوري، که یوه وي یا زیاتې وي، تر هغه چې په یوه درجه کې وي. ۲ـ ټولې د مور په شتون کې ساقطېږي، او د پلار له لوري نیاوې د پلار په شتون کې هم ساقطېږي، همدارنګه د نېکه په شتون کې هم خو د پلار مور د نېکه په شتون کې نه ساقطېږي.




عَصَبات څلور ډولونه لري: عصبه هغه وارث ته ویل کېږي، چې که یوازې وي، ټول مال اخلي او که له فرض لرونکو سره وي، نو پاتې مال اخلي.

۱ـ عصبه بنفسه(په خپل ځان عصبه): هر هغه نارینه، چې مړي ته یې په نسبت کې ښځه منځګړې نه وي: ۱ـ زامن بیا د هغوی زامن(که هر څومره ښکته هم وي). ۲ـ پلار بیا صحیح نیکه. ۳ـ ورونه، بیا د هغوی زامن. ۴ـ ترونه(کاکاګان)، بیا د هغوی زامن. او په عصبه بنفسه کې نږدې(خپلوان) لرې(خپلوان) محرومـوي.

۲ـ عصبه بغیره(د بل په واسطه عصبه): هره ښځه چې د عصبه بنفسه په شتون کې عصبه شي: ۱ـ اصلي لور. ۲ـ د زوی لور. ۳ـ سکنۍ خور(د پلار او مور له لوري). ۴ـ د پلار له لوري خور.

۳ـ عصبه مع غیره(له بلې ښځې سره عصبه): هره ښځه، چې د بلې ښځې په شتون کې عصبه شي، لکه خور د لور سره.

۴ـ عصبه سببیه(د سبب له مخې عصبه): د ازادولو مالک(مولی العتاقة)، بیا د هغه عصبات په ترتیب سره؛ هر څوک چې د داسې خپلوانو مالک شي چې نکاح ورسره حرامه وي، نو ولاء(د میراث حق) د هغه لپاره ثابتېږي.



حجب(د میراث مخنیوی): حجب دې ته ویل کېږي، چې یو څوک د بل چا د شتون له امله له خپل ټول یا له یوې برخې میراث څخه محروم شي.

حجب دوه ډولونه لري:

۱ـ حجب النقصان(د برخې کمېدل): دا په پنځو کسانو کې راځي: ۱ـ مېړه. ۲ـ ښځه. ۳ـ مور. ۴ـ د زوی لور. ۵ـ د پلار له لوري خور.

۲ـ حجب الحرمان(بشپړ محرومیت): دا هغه دی، چې نږدې وارث لرې وارث له میراثه بې‌برخې کړي، که له فرض لرونکو څخه وي یا له عصباتو څخه.

وارثان د بشپړ محرومیت له مخې دوه ډوله دي:

۱ـ شپږ کسان هېڅکله له میراث څخه نه محرومیږي: ۱ـ پلار. ۲ـ زوی. ۳ـ مېړه. ۴ـ ښځه. ۵ـ مور. ۶ـ لور.

۲ـ له پورته کسانو پرته نور ټول هغه عصبات او فرض لرونکي دي، چې ځینې وختونو کې محجوبیږي(له میراث څخه محرومیږي.)

قاعدة: هر هغه څوک چې د بل چا له لارې مړي ته رسېږي، د هغه په شتون کې میراث نه وړي، پرته له: د مور له لوري اولاد(اخیافي وروڼه او خوښدې).

د فرضونو مخارج(اصلي برخې): هغه فرضي برخې چې د الله‌تعالی په کتاب کې راغلي دي، شپږ دي: ۱ـ نیم(نصف) ۲ـ څلورمه برخه(ربع). ۳ـ اتمه برخه(ثمن). ۴ـ دوه پر دریمه(ثلثان). ۵ـ درېیمه برخه(ثلث). ۶ـ شپږمه برخه(سدس). لومړی د دوهم دوه چنده ده او هغه د درېیم، همداراز څلورم د پنځم دوه چنده ده او هغه د شپږم او برعکس.

درې لومړنیو ته(لومړۍ نوعه) ویل کېږي او درې وروستنیو ته(دوهمه نوعه) ویل کېږي.

که په یوه مسئله کې یوازې یو فرض وي، نو د هغه مخرج هماغه د هغه هم نوم(د هغه په شان عدد) وي ، خو نیم(نصف) استثنا دی چې مخرج یې دوه دی.

او که له یوې نوعې څخه دوه یا درې برخې سره راټولې شي، نو د جز مخرج د کل مخرج وي. او که نیم(نصف) د دوهمې نوعې له ټولو برخو یا د هغه له یوې برخې سره ګډ شي، نو مخرج شپږ کېږي؛ او که څلورمه(ربع) د دوهمې نوعې له ټولو برخو یا د هغه له یوې برخې سره یوځای شي، نو مخرج دولس کېږي؛ او که اتمه(ثمن) د دوهمې نوعې له ټولو برخو یا د هغه له یوې برخې سره یوځای شي، نو مخرج څلورویشت کېږي.

عَول(د برخو زیاتېدل):

هغه مخارج چې عَول نه مني، څلور دي: ۱ـ دوه. ۲ـ څلور. ۳ـ اته. ۴ـ درې.

او هغه مخارج چې عَول مني: شپږ تر لسو پورې، طاق او جفت دواړه. دولس تر اوولسو پورې، یوازې طاق. څلورویشت اووه ویشتو پورې، یوازې یو عَول.

نسبتونه څلور دي: ۱ـ تماثل: د دوو عددونو برابروالی. ۲ـ تداخل: چې کوچنی عدد لوی عدد له منځه وړي(یعنې لوی په کوچني روغ وېشل کېږي). ۳ـ توافق: چې درېیم عدد دا دواړه عددونه له منځه وړي((له یو پرته) یو درېیم عدد دا دواړه عددونه سره برابر وېشي). ۴ـ تباین: چې نه یې کوچنی عدد له منځه وړلای شي او نه کوم درېیم عدد(نه کوچنی عدد لوی پوره وېشي او نه یې کوم درېیم عدد برابر وېشي.)

د نسبتونو پېژندنه: د دې لپاره چې د دوو عددونو ترمنځ نسبت معلوم شي، له لوی عدد څخه کوچنی عدد یو ځل یا څو ځله له دواړو خواوو کم کړه؛ که دواړه په یوه عدد سره برابر(یو شان تقسیمېدونکي) شي، نو متوافق دي، که نه، نو توافق نه لري.

د سهامو او سرونو ترمنځ تصحیح(او هم د سرونو ترمنځ تصحیح) په اوو قاعدو کېږي:

۱ـ که د هرې ډلې(فریق) برخې په خپلو کسانو(سرونو) سم ووېشل شي، نو ضرب ته اړتیا نشته. ۲ـ که د یوې ډلې په برخو کې کسر(ماتېدل) راشي او د برخو او سرونو ترمنځ توافق(ګډ وېش) وي، نو د هماغې ډلې د سرونو وفق(ګډ وېش) په اصل مسئله کې ضرب کېږي. ۳ـ که کسر په یوې ډلې راشي او د برخو او سرونو ترمنځ توافق نه وي، نو د هماغې ډلې د سرونو ټول عدد په اصل مسئله کې ضرب کېږي. ۴ـ که کسر پر دوو یا زیاتو ډلو راشي او د هغوی د سرونو عددونه یو شان(متماثل) وي، نو له هماغو عددونو څخه یو په اصل مسئله کې ضرب کېږي. ۵ـ که کسر پر دوو ډلو راشي او د هغوی د سرونو ترمنځ تداخل(یو په بل کې داخلېدل) وي، نو لوی عدد په اصل مسئله کې ضرب کېږي. ۶ـ که کسر پر دوو ډلو راشي او د سرونو ترمنځ توافق وي، نو د یوه عدد وفق په بل ټول عدد کې ضرب کړه، بیا حاصل که له درېیم سره توافق ولري، د هغه وفق کې یې ضرب کړه، که نه په ټول عدد کې یې ضرب کړه، همداسې دوام ورکړه، بیا وروستی حاصل په اصل مسئله کې ضرب کړه. ۷ـ که کسر پر دوو ډلو راشي او د سرونو تر منځ تباین(هیڅ ګډ وېش نه لري) وي، نو د یوه عدد په ټول دویم کې ضرب کړه، بیا حاصل په ټول درېیم کې، همداسې دوام ورکړه، بیا وروستی حاصل په اصل مسئله کې ضرب کړه.

که غواړې د هر کس برخه معلومه کړې: د هرې ډلې برخې، چې په اصل مسئله کې دی، په هغه عدد کې ضرب کړه چې تا دا اصل مسئله وربانديې ضرب کړې ده؛ حاصل د هغه کس برخه ده.

د پور اخیستونکو(غرماؤ) او وارثانو ترمنځ وېش:

که غواړې د هر شخص برخه معلومه کړې، نو که د(تصحیح) او ترکې ترمنځ «تباین» وي، د هر وارث برخه د تصحیح له اصل څخه د ټولې ترکې په اندازه ضرب کړه، بیا حاصل پر هماغه تصحیح ووېشه؛ نو چې څه راوځي، هماغه د هغه وارث برخه ده. او که د تصحیح او ترکې ترمنځ موافقت(توافق) وي، نو د هر وارث برخه د تصحیح له اصل څخه د ترکې په(وفق) کې ضرب کړه، بیا حاصل پر تصحیح ووېشه؛ نو خارج(نتیجه) یې د هغه برخه ده. او که غواړې د هرې ډلې برخه معلومه کړې، نو د هرې ډلې برخې د ترکې په وفق کې ضرب کړه، بیا که د ترکې او مسئلې ترمنځ موافقت وي، حاصل د مسئلې پر وفق ووېشه؛ او که مباینت وي، نو د ټولې ترکې په اندازه یې ضرب کړه، بیا حاصل پر ټول عدد ووېشه؛ نو چې څه راوځي، هماغه د هغې ډلې برخه ده.

د هر پور اخیستونکي پور د هر وارث د برخې په څېر ده او د ټولو پورونو مجموعه د(تصحیح) حیثیت لري.

او که په ترکه کې کسرونه(مات شمېرې) وي، نو ترکه او مسئله دواړه په بشپړو عددونو واړوئ.

تخارج: کله چې یو وارث د څه شي په بدل کې له خپلې برخې تېر شي، نو د هغه برخه لرې کړه او پاتې مال پر پاتې وارثانو ووېشه.

ردّ(بېرته ګرځول): هغه مال، چې د فرض لرونکو له برخو وروسته پاتې شي او بل مستحق ونه لري، بېرته هماغو فرض لرونکو ته د هغوی د حقونو په اندازه ورګرځول کېږي، خو مېړه او ښځې ته رد نه کېږي.

د ردّ مسئلې څلور ډوله دي:

۱ـ که په مسئله کې یوازې یو جنس له هغو کسانو وي چې رد پرې کېږي، نو مسئله د هغوی د سرونو(تعداد) له مخې وګرځوه.

۲ـ که دوه یا درې هغه جنسونه سره یوځای شي چې رد پرې کېږي، نو مسئله د هغوی د برخو له مخې وګرځوه.

۳ـ که له لومړي قسم سره داسې څوک هم وي چې رد پرې نه کېږي، نو لومړی هغه ته خپل فرض د لږ تر لږه مخرج څخه ورکړه؛ که پاتې مال پر نورو سم ووېشل شو، نو سم دی او که نه، نو د هغوی د سرونو شمېر د هغه چا د فرض په مخرج کې ضرب کړه چې رد پرې نه کېږي؛ حاصل د مسئلې تصحیح ده.

۱ـ او که له دویم ډول سره داسې څوک وي چې رد پرې نه کېږي، نو د هغه د فرض څخه پاتې مال پر هغو کسانو ووېشه چې رد پرې کېږي؛ که سم ووېشل شو، ښه ده او که نه، نو د رد د مستحقینو ټوله مسئله د هغه چا د فرض په مخرج کې ضرب کړه چې رد پرې نه کېږي؛ حاصل د دواړو ډلو د فرضونو مخرج دی.

مناسخه: د مناسخې اصل دا دی چې لومړی د لومړي مړي مسئله تصحیح شي او د هر وارث برخه ورته معلوم شي، بیا د دویم مړي مسئله تصحیح شي، وروسته دې وکتل شي چې د دواړو تصحیحونو ترمنځ څه نسبت ده:

- که د لومړۍ مسئلې عدد پر دویمې مسئلې سم تقسیمېږي، نو ضرب ته اړتیا نشته.
- او که سم نه تقسیمېږي، نو که د دواړو ترمنځ(موافقت) وي، د دویمې مسئلې(وفق) د لومړۍ مسئلې په عدد کې ضرب کړه.
- او که د دواړو ترمنځ(مباینت) وي، نو د دویمې مسئلې ټول عدد د لومړۍ مسئلې په ټول عدد کې ضرب کړه.

نو کوم حاصل چې راووځي، هماغه د دواړو مسئلو ګډ مخرج دی.

او که غواړې د هر وارث برخه معلومه کړې، نو د لومړي مړي برخې د دویمې مسئلې په تصحیح یا د هغې په وفق کې ضرب کړه او د دویم مړي برخې په هغه مال کې ضرب کړه، چې د هغه په لاس کې پاتې و، یا د هغه په وفق کې یې ضرب کړه.

او که درېیم کس هم وفات شي، نو د مخکېنیو دواړو مسئلو حاصل د لومړۍ مسئلې پر ځای وګرځوه او درېیمه مسئله د دویمې مسئلې په مقام کې راوله؛ همدغه طریقه په عمل کې بسنه کوي، بیا همداسې دا لړۍ تر هر څو مړینو پورې جاري کېږي.

ذوو الارحام څلور ډوله دي:

۱ـ هغه خپلوان چې مړي ته یې نسبت کېږي، لکه: د لونې اولادونه او د زوی د لونې اولادونه.

۲ـ هغه خپلوان چې د مړي نسبت هغوی ته کېږي، لکه: ساقط شوي نیکونه او ساقط شوې اناګاني.

۳ـ هغه خپلوان چې د مړي مور او پلار ته یې نسبت کېږي، لکه: د خویندو اولادونه، د ورونې لونې، او د مور له اړخه د ورونې زامن.

۴ـ هغه خپلوان چې د مړي نیکه یا انا ته یې نسبت کېږي، لکه: تروڼګاني، ترونه، ماماګان او خاله ګاني.

د دغو صنفونو له جملې څخه تر ټولو نږدې(حقدار) صنف دویم دی، بیا لومړی، بیا درېیم او وروسته څلورم. او بل قول دا دی چې: لومړی، بیا دویم، بیا درېیم او وروسته څلورم. والله أعلم.



اخځليکونه:

۱ـ رسالة الشيخ محمد ضياء الحسن الكاندهلوي رحمه‌الله: دا موضوع اصلا د شيخ محمد ضياء الحسن كاندهلوي رحمه‌الله له رسالې څخه اخيستل شوې ده؛ خو په کې ځينې اصلاحات او سمونونه شوي، ځينې اضافې برخې پاکې شوي او ځينې اړينې مسئلې ورزياتې شوي دي.

۲ـ السراجي- د شيخ سراج الدين محمد بن عبدالرشيد السجاوندي اثر.

۳ـ دليل الوُراث حاشية السراجي د شيخ محمد نظام الدين الكيرانوي.

۴ـ قواعد ميراث د شيخ رفعت‌الله مولوي زاده اثر.



کرومایت و معادن آن در افغانستان

کرومایت با فورمول کیمیاوی(Cr) و با وزن مخصوص(۷،۹) گرام بر سانتی مترمکعب یکی از عناصر فلزی مگماتیکی بوده که در سال(۱۷۹۷م) توسط کیمیادان فرانسوی(ل. وکلین) در منرال کروکویت کشف گردید. درجه ذوبان این عنصر(۱۸۹۰) و درجه غلیان آن(۲۳۲۷) درجه سانتی گراد می‌باشد. چهار ایزوتوپ کرومایت(۵۲،۵۰ و۵۴) در طبیعت وجود دارد که از جمله(Cr^{52})از گسترش بیشتر برخوردار است و کلارک کرومایت(۰،۰۰۸۳) فیصد بوده. از نظر تیپ‌های جنتیکی صنعتی کرومایت به معادن قبل مگماتیکی، بعد مگماتیکی و پاشان تقسیم می‌شود. در حال حاضر منابع کرومایت در(۳۶) ممالک جهان وجود دارد که ذخایر مجموعی آن به(۱۵،۵) پانزده اعشاریه پنج میلیارد تن تخمین شده است.

منرال‌های کرومایت:

در طبیعت حدود(۳۰) نوع منرال کرومایت وجود داشته، که از جمله منرال‌های ذیل اهمیت صنعتی دارد:

مگنوکرومیت $(Mg,Fe)CrO_4$،

کرومایت پیکاتیت (Mg,Fe)(Cr,Al)2O4،

الوموکرومیت $(Fe,Mg)(Cr,Al)_2O_4$ و کرومایت ($FeCr_2O_4$) که به ندرت یافت می‌شود.

معادن کرومایت در افغانستان:

ظواهر و معادن کرومایت در ولایات لوگر، پروان، پکتیا، پکتیکا، خوست، زابل، غزنی، کندهار، کابل، کنر، میدان وردک و ننگرهار به ثبت رسیده است که از جمله معادن کرومایت ولایت لوگر از شهرت بیشتر برخوردار است.

موارد استفاده:

عنصر کرومایت در صنایع متالورژی، مواد مقاوم آتش، صنایع کیمیاوی، صنعت فولاد سازی، رنگ سازی، صنایع حربی، الیاژ مخصوص با نیکل، کوبالت، ولفرام، مولبدن و المونیم مورد استفاده قرار می‌گیرد.

موقعیت کرومایت ساحه التمور ولایت لوگر:

کرومایت ساحه التمور به فاصله(۸۵) کیلومتری ولایت کابل و به فاصله(۲۲) کیلومتری جنوب غرب پل‌علم مرکز ولایت لوگر در ساحهٔ با ریلف کوهستانی و در جوار شاهراه ولایات جنوبی اخذ موقعیت نموده است.

ساحه جیولوجی:

ساحه التمور پل علم متشکل از احجار ماورای قلوی بوده و مواد معدنی کرومایت این ساحه با منشأ مگماتیکی در کانتکت با احجار انتروزیفی چون دونیت‌ها، پیرودوتیت‌ها، سرپنتینیت، هارزبورگیت‌ها و احجار کاربناتی قرار دارد. از نظر عمر احجار این ساحه به سیستم پالیوجین، پرم و سیستم چهارمی بر می‌گردد.

معلومات اجتماعی و محیط زیستی:

مردم این محل عموماً مصروف زراعت و مالداری بوده و محصولات زراعتی این ولایت عبارت از سیب، انگور، زردالو، بادام، گندم، جو، جواری و غیره می‌باشد. جریانات آب دایمی در ساحه وجود ندارد و مردم برای آب آشامیدنی و زراعتی خویش از چاه‌ها و کاریزها استفاده می‌کنند.

معلومات در مورد زیربناها:

در داخل محدوده معدن مذکور تاسیسات شخصی و یا دولتی وجود ندارد اما ساحه مذکور در جوار شاهراه ولایات جنوبی قرار داشته که اهمیت اقتصادی معدن مذکور را افزایش می‌دهد.





معرفی ریاست انستیتوت معادن

ریاست انستیتوت معادن به‌عنوان مرجع تخصصی، آموزشی و تحقیقی در ساختار وزارت معادن و پترولیم نقش اساسی در ارتقای ظرفیت‌های فنی و مسلکی بخش معادن مملکت ایفا می‌نماید، این ریاست با تمرکز بر آموزش‌های معیاری، تحقیقات کاربردی و توسعه مهارت‌های تخصصی، در راستای تقویت دانش‌فنی کارمندان وزارت، متخصصین، معدنکاران و محصلین بخش معادن نهادهای تحصیلی فعالیت می‌کند. با توجه به اهمیت مدیریت مؤثر منابع معدنی و نیاز روز افزون به روش‌های نوین، ایمن و پایدار معدنکاری، انستیتوت معادن تلاش نموده است تا از طریق برنامه‌های آموزشی منظم، تدوین نصاب‌های معیاری، اجرای تحقیقات هدف‌مند و همکاری با نهادهای علمی و فنی، زمینه بهبود عملکرد فنی و اداری در بخش معادن را فراهم سازد. فعالیت‌های این ریاست در سال جاری بر محور ارتقای ظرفیت نیروی متخصص، ترویج فرهنگ مصؤنیت و ایمنی در معادن، تقویت مهارت‌های عملی و انکشاف تحقیقات کاربردی استوار بوده است. این اقدامات نه تنها به بهبود کیفیت فعالیت‌های معدنکاری کمک نموده، بلکه در راستای استفاده مؤثر از منابع معدنی و حمایت از رشد اقتصادی و اجتماعی مملکت نیز نقش مهم داشته است.

ریاست انستیتوت معادن از جمله ریاست‌های کلیدی وزارت بوده که تحت اثر مستقیم مقام وزارت معادن و پترولیم فعالیت می‌نماید. اهداف اصلی این ریاست طرح و تنظیم فعالیت‌های آموزشی، تحقیق و توسعه معادن و نشر نتایج تحقیقات، تدویر برنامه‌ها و هماهنگی با نهادهای تحصیلی و علمی مرتبط به جیولوجی و معادن به منظور بلند بردن سطح دانش فنی کارمندان وزارت معادن و پترولیم و محصلین نهادهای تحصیلی مملکت در مرکز و ولایات می‌باشد.

وظایف و مسوولیت‌های عمده ریاست انستیتوت معادن

۱ـ ارایه مشوره‌های فنی باکیفیت، به موقع و دقیق درباره موضوعات مرتبط به تفحص، اکتشاف، استخراج، پروسس و بهره برداری از منابع هایدروکاربن‌ها.

۲ـ ایجاد و تدویر برنامه‌های ارتقای ظرفیت در بخش تفحص و اکتشاف مواد مفیده جامد، استخراج معادن، هایدروکاربن‌ها و سیستم‌های نظارت کادستری و بازرسی، جمع‌آوری و تبادل اطلاعات با نهادهای علمی و فنی جهانی مطابق نیازمندی‌های وزارت معادن و پترولیم.

۳ـ حصول اطمینان از ایجاد و فعال‌سازی سیستم‌های مؤثر در بخش‌های مختلف روند معدنکاری برای مؤثریت آموزش، نظارت و ارزیابی جهت ارتقای ظرفیت کاری و فنی کارمندان وزارت معادن و پترولیم.

۴ـ کنترول و نظارت از بخش تحقیق و مطالعات در خصوص جمع‌آوری مواد آموزشی بخش‌های معدنکاری جهت تطبیق برنامه‌های آموزشی مفید و مؤثر در بخش‌های معدنکاری.

۵ـ کنترول، نظارت و همچنان حصول اطمینان از نشر مطالب جدید و مرتبط به روند نوین معدنکاری(تفحص، اکتشاف، استخراج و پروسس) در ژورنال علمی.

۶ـ فراهم‌سازی زمینه آموزش کارمندان و کارگران پروسس سنگ‌های قیمتی و نیمه قیمتی به صورت حرفوی.

۷ـ تجهیز انستیتوت معادن با وسایل و امکانات عصری.

۸ـ همکاری و مشارکت در تدوین نصاب‌های آموزشی نهادهای تحصیلی و علمی مرتبط به معادن به اساس یافته‌های نوین علمی و تحقیقی ریاست انستیتوت معادن.

۹ـ شریک‌سازی طرح برنامه‌های آموزشی و علمی با نهادهای همکار داخلی و خارجی.

۱۰ـ طرح و تطبیق برنامه‌های علمی و عملی برای محصلین پوهنتون‌ها و انستیتوت‌های مسلکی معادن.

۱۱ـ ارتباط و هماهنگی با نهادها و انستیتوت‌های معادن جهانی و تبادل افکار و اطلاعات جهت غنامندی برنامه‌های آموزشی مرتبط به معادن جهت ارتقای ظرفیت کارمندان فنی وزارت معادن و پترولیم.

۱۲ـ تأمین ارتباط کاری و هماهنگی با بخش انکشاف پالیسی و برنامه به منظور تدوین و ترتیب مقررات و طرزالعمل‌ها مربوط به انکشاف در عرصه‌های امور اکتشاف، استخراج و پروسس مواد منرالی جامد و هایدروکاربن‌ها.

۱۳ـ اجرای سایر وظایف که از طرف مقامات ذیصلاح مطابق قوانین، مقررات و اهداف وزارت سپرده می‌شود.

دست‌آوردها و فعالیت‌های عمده ریاست انستیتوت معادن در طی سال مالی(۱۴۰۴).

۱ـ تدویر برنامه‌های ارتقای ظرفیت برای(۸۰) تن از کارمندان فنی وزارت جهت ارتقای ظرفیت در بخش‌های تحلیل و نقشه سازی (GIS & And Arc Gis Pro) و مدل‌سازی، طراحی، و زمان بندی (Surpac, Datamin , NPV Schluder).

۲ـ اعزام(۶۰) تن از کارمندان فنی وزارت جهت ارتقای ظرفیت و فراگیری دانش نوین معدنکاری به مملکت ازبیکستان در بخش‌های(آزمایشگاه، جیوفزیک و اکتشاف).

۳ـ برگزاری برنامه آموزشی به صورت آنلاین با متخصصین هایدروکاربن های مملکت هالند.

۴ـ تدویر برنامه آموزشی جهت ارتقای ظرفیت برای(۵۰) تن از معدنکاران و کارگران فابریکات پروسس مواد منرالی.

۵ـ عقد تفاهم‌نامه همکاری فی مابین وزارت معادن و پترولیم و وزارت تحصیلات عالی جهت همکاری و هماهنگی مؤثر در راستایی تطبیق پیشبرد امور کاری.

۶ـ برگزاری ورکشاپ آموزشی تحت عنوان روش‌های جیوفزیک با همکاری متخصصین مملکت ایران برای روئساء، مشاورین و کارمندان وزارت.

۷ـ تدویر ورکشاپ تحت عنوان رهبری استراتیژیک برای روئسا و مشاورین وزارت.

۸ـ تدویر برنامه‌های آموزشی و مساعد ساختن دوره عملی برای(۱۳۲) تن از محصلین پوهنتون‌ها.

۹ـ جمع‌آوری معلومات به منظور فهرست نمودن کتاب‌ها برای مطالعه و تحقیق کارمندان فنی وزارت.

۱۰ـ جمع‌آوری مواد آموزشی و تحقیقاتی در بخش‌های معدنکاری.

تشکیل ریاست انستیتوت معادن

ریاست انستیتوت معادن در مجموع دارای(۳۱) بست رسمی است که در بخش‌های مختلف این ریاست فعالیت می‌نماید.

بست	۲	۳	۴	۵	۷	۸
تعداد	۱	۷	۱۴	۵	۱	۳
مجموعه:۳۱						

طرح‌های بلند مدت ریاست انستیتوت معادن

۱ـ آموزش کارمندان فنی وزارت، کارگران شرکت‌های معدنکاری و محصلین رشته‌های جیولوجی و معدن.

۲ـ تحقیقات کاربردی در بخش معادن، ایجاد همکاری با پوهنتون‌ها و مراکز علمی داخلی و جهانی.

۳ـ رعایت معیارهای محیط زیستی در استخراج معادن و ترویج استفاده پایدار از منابع طبیعی.

۴ـ ایجاد و تجهیز آزمایشگاه‌های عصری، مراکز تحقیقاتی و فراهم‌سازی وسایل پیشرفته اکتشاف و استخراج.

پلان‌های سال(۱۴۰۵) ریاست انستیتوت معادن

ریاست انستیتوت معادن مطابق پلان‌های کوتاه‌مدت، میان‌مدت و درازمدت فعالیت‌های ذیل را عملی خواهد نمود.

۱ـ ایجاد برنامه‌های آموزشی کوتاه‌مدت و درازمدت به منظور ارتقای ظرفیت و افزایش مهارت‌های کارمندان وزارت.

۲ـ ایجاد برنامه‌های آموزشی برای کارمندان وزارت در زمینه آموزش و تحقیق ابزارهای جیوفزیک.

۳ـ آموزش کادرهای فارغ شده رشته‌های معادن، جیولوجی، اکتشاف و استخراج پوهنتون‌ها.

۴ـ به منظور بهبود کیفیت، همکاری در بخش‌های علمی و عملی با پوهنځی‌های جیولوجی و معادن و سایر نهادهای آموزشی.


۵ـ ایجاد برنامه‌های آموزشی به منظور ارتقای ظرفیت، در داخل و خارج از مملکت، توسط شرکت‌های خصوصی معدنکاری.

۶ـ توسعه منابع علمی و تحقیقی.

۷ـ تحقیق در زمینه استخراج و فراآوری مواد معدنی.

۸ـ ایجاد مجله علمی مرتبط با بخش‌معادن.

۹ـ غنی‌سازی کتابخانه.



زندگی‌نامه سرجیولوجست ذغال سنگ
انجنیر زمان الدین «رحیمی»

انجنیر زمان الدین رحیمی در سال(۱۳٦۵) دریک خانواده دیندار و روشن‌فکر در قریه تکانه ولسوالی جلریز ولایت میدان وردگ چشم به جهان گشوده، وی نسبت علاقمندی که به تعلیم و تحصیل داشت در سال(۱۳۷۲) شامل لیسه نمبر دوازده خیرخانه شده، بعد از اختتام دوره ابتدایه و متوسطه دوره لیسه را در لیسه غلام حیدرخان فراگرفت، و در سال(۱۳۸٦) از لیسه مذکور فارغ گردید، پس از تلاش‌های زیاد بعد از سپری نمودن امتحان کانکور در سال(۱۳۸۷) در پوهنځی جیولوجی و معدن پوهنتون پولی تخنیک کابل راه یابد. و در سال(۱۳۹۱) از رشته جیولوجی تفحص و اکتشاف معادن مواد مفیده حامد به سویه لیسانس فارغ شده است.

انجنیر زمان الدین رحیمی با تلاش و پشتکار که داشت توانست در سال(۱۳۹۲) از طریق رقابت آزاد به عنوان انجنیر جیولوجست در وزارت معادن و پترولیم تقرر حاصل نماید و از آن زمان تا اکنون، در بخش اکتشاف و سروی منابع منرالی ریاست اکتشاف منرال‌ها، وزارت معادن و پترولیم ایفای وظیفه می‌نماید.

انجنیر رحیمی با داشتن تجربه کاری دوازده ساله ساحوی، در سروی و ارزیابی انواع ذخایر منرالی در ولایات مختلف مملکت سهم فعال داشته و افتخارات زیادی را بدست آورده که مهم ترین فعالیت‌های وی عبارت اند از:

- سروی معادن ذغال سنگ در ولایت سمنگان(روی دوآب و دره صوف) ولایت بغلان ولسوالی(پلخمری و اندراب)،
- سهم فعال در سروی بیش از(٦۰۰۰) تـــونل ذغال سنگ در ولایات بغلان و سمنگان،
- سروی معادن مرمر در ولایات کاپیسا و بغلان ولسوالی(دوشی)،
- سروی ذخایر گچ ولایت بغلان،
- سروی معدن لاجورد ولایت بدخشان،
- سروی ذخایر سرپنتین، کرومایت و بنتونایت در ولایت لوگر،
- سروی معادن ولسوالی‌های مختلف ولایت غزنی،
- سروی مس ولایت فراه،
- سروی پروژه سمنت ولایت کندز،
- نظارت بر فعالیت‌های اکتشافی در پروژه‌های بزرگ مانند: مس عینک و طلای سمتی ولایت تخار.

فعالیت‌ها و دست‌آوردهای انجنیر زمان الدین رحیمی

- سروی و ارزیابی ساحه گنده کوتل ولسوالی یکاولنگ ولایت بامیان که در نتیجه مطالعات فنی، به شش بلاک مجزا تقسیم گردیده و جهت سرمایه‌گذاری به قرارداد سپرده شد.
- سروی(۲۲) ساحه معدنی در ولایت ننگرهار که از آن میان(۱۴) ساحه دارای نتایج مثبت تثبیت گردیده، و در حال حاضر در مراحل بعدی جهت عقد قرارداد قرار دارد.

انجنیر زمان الدین رحیمی با تسلط بر روش‌های سروی جیولوجیکی، نمونه برداری، تحلیل داده‌ها و تفسیر ساختارهای زمین شناسی، گزارش نویسی و ارزیابی پروپوزل‌های معادن توانسته است در شناسایی و ارزیابی ذخایر مهم مملکت نقش قابل ملاحظهٔ ایفا نماید. تجربه وسیع ساحوی، آشنایی با شرایط جیولوجیکی متنوع افغانستان، و توانایی مدیریت فعالیت‌های فنی در ساحه، از ویژگی‌های برجسته وی به شمار می‌رود. همچنان، ایشان در رهبری تیم‌های اکتشافی و نظارت بر پروژه‌های بزرگ داخلی، کارکرد مؤثر داشته است.

دیدگاه مسلکی

انجنیر رحیمی باور دارد، که استخراج پایدار و مسلکی منابع زیرزمینی، کلید خودکفایی اقتصادی افغانستان است. هدف او در مسیر حرفهٔ، بومی سازی کیفیت‌های جهانی در مطالعات جیولوجیکی و ارتقای ظرفیت تیم‌های اکتشافی برای شناسایی دقیق‌تر ثروت‌های نهفته مملکت است تا از این طریق، زمینه برای صنعتی شدن و ایجاد اشتغال پایدار فراهم گردد.

د زرشویی د امورو د تنظیم په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی

فرمان

۳۳ شمېره

نېټه ۱۴۴۷/۱۲/۱

ثم إن الخمس في المباحة لبيت المال والباقي للواجد، وأما الثاني وهو المملوكة لغير معين فلم أو حكمه، والذي يظهر لي أن الكل لبيت المال، أما الخمس فظاهري، وأما الباقي فلوجود المالك وهو جميع المسلمين فيأخذه وكيلهم وهو السلطان. [رد المختارعلى دارالمختار ج ۲ ص ۳۱۹ الناشر دارالفكر - بيروت].

ژباړه: بيا هغه خمس چې په مباحه ځمکه کې دی، د بيت المال(حق) دی او پاتې نور د واجد(موندونکي) لپاره دي. او دوهم(قسم) چې د نامعين(غيرمعين) مالک ملکيت وي، ما يې حکم نه دی ليدلی، خو هغه څه چې ماته څرګندېږي دا ده، چې ټول(مال) د بيت المال دی؛ هرڅه خمس چې دي(د هغه حکم) ښکاره دی. او پاته برخه، د موجود والي د مالک له امله چې هغه ټول مسلمانان دي، نو اخلي به هغه وکيل د هغوی چې سلطان دی.

د پورتني شرعي مسئلې پر اساس د زرشويي د اړوندو ځمکو په اجاره ورکولو د کارونو د تنظيم لپاره دې لاندې مواد عملي شي:

لومړی ماده:

ټولې هغه امارتي ځمکې چې زرشويي پکې کيدای شي، د عامه منافعو د خوندیتوب په خاطر کرغ(حمی) بلل کېږي او د امارت له اجازې پرته هيڅوک نشي کولای چې په دغو ځمکو کې تصرف وکړي.

دوهمه ماده:

د کانونو وزارت دې په لومړی ماده کې یاده شوې ځمکه، د معلومې مودې لپاره د امارتي ځمکو د اجازې قانون د حکمونو مطابق، اشخاصو يا شرکتونو ته په اجاره ورکړي، ترڅو هغوی پر ټاکل شوې ځمکه خپل ماشين الات او وسايل نصب کړي.

دریمه ماده:

۱ـ د کانونو وزارت دې، د ځمکې د موقعيت اړوند عامه خدمتونو په نظر کې نيولو سره، له مستأجر څخه مناسب اضافي اجرت واخلي.

۲ـ هغه پيسې چې د عامه خدمتونو او چاپيريال ساتنې(محيط زيستي) لپاره په نظر کې نيول شوي دي، هغه دي يوازې په همدې برخو کې مصرف شي.

۳ـ د کانونو وزارت دې ، له مستأجر سره په دې شرط عقد وکړي، چې د استخراج له پای ته رسېدو وروسته به ځمکه ښه‌رته خپل اصلي حالت ته راګرځوي.

۴ـ د کانونو وزارت دې، د ځمکې د ښه‌رته رغولو او برابرولو په خاطر له مستأجر څخه مناسبه اندازه پیسې د تضمین په توګه واخلي.

څلورمه ماده:

د کانونو وزارت دې، بدل الاجاره په نقدي پیسو، مطابق سرو زرو د یوې برخې شرط لګول د اجارې د بدل په توګه صحیح نه دي.

پنځمه ماده:

کله چې له یادې ځمکې څخه سره زر استخراج شي، یوه پنځمه برخه(خمس) به یې امارت ته سپارل کېږي او پاتې څلور برخې به د استخراج کوونکي وي.

شپږمه ماده:

د کانونو وزارت دې، د زر شویي چارې به مستقیم ډول ترسره کړي او خلکو ته ماشین الاتو، وسایلو او کارکوونکو اجرت ورکړي.

اووه ماده:

۱ـ که د سرو زرو کان د چا به شخصي ځمکه مالک یې خپله استخراجوي، اسلامي امارت نشي کولای هغه منع کړي، البته استخراجوونکی یې د یادو استخراج شویو سرو زرو د خمس په ورکولو مکلف دی.

۲ـ د کانونو وزارت دې، د شخصي ځمکې د مالک په رضا او خوښه، نومورې ځمکه د دلال یا سمسار په توګه اشخاصو یا شرکتونو ته په اجاره ورکړي او د دلالۍ مناسب اجرت او د لاسته راغلو سرو زرو خمس دې واخلي.

۳ـ که کان د کوم شخص په کور، سرای یا دوکان کې وموندل شي، په هغه کې خمس نشته، بلکې ټول لاسته راغلي سره زر د کور، سرای یا دوکان د اصل مالک ګټل کېږي. البته که د ځمکې مالک په خپله ځمکه کې داسې تصرف وکړي، چې عامه خلکو ته ضرر رسیږي، د ضرر دفع کول باندې لازم دي.

اتمه ماده:

د کانونو وزارت دې، د دې فرمان د حکمونو د ښه تطبیق په هدف طرزالعملونه تدوین او د منظورۍ لپاره دې مور ته راولیږي.

نهمه ماده:

دغه فرمان د صدور له نیټې څخه واجب الاجراء دی او په رسمي جریده کې دې نشر شي.


والسلام علیکم ورحمة الله و براکاتو!
امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث
مولوي هبةالله اخندزاده

د کندهار د شور اندام سمنټو کارخونه

د کورنۍ تولید او اقتصادي وډې پر لور ستر ګام



سمنټ د ودانیزو برخو له اړینو او بنسټیزو توکو څخه شمېرل کېږي، چې د سړکونو، پلونو، بندونو، استوکنیزو ودانیو او نورو زېربنایي پروژو په جوړولو کې بنسټیزه ونډه لري. په همدې تړاو د افغانستان اسلامي امارت د کانونو او پټرولیم وزارت په دغه برخه کې کوټلي ګامونه اخیستي دي او اوس مهال د ملک په بېلابېلو ولایتونو کې د سمنټو په شپږو سترو کارخونو کار روان دی، چې په رغولو سره به يې د سمنټو په برخه کې ملک پرځان بسیا شي.



د کندهار ولایت د شور اندام د سمنټو کارخوني ټرون د احمد نبي‌زاده شرکت سره لاسلیک شوی، په دغې کارخوني کې به(۱۱۳) یو سل او دریارلس میلیونه امریکايي ډالره پانګونه وشي او په نړدې راتلونکې کې به د سمنټو د تولید چارې پیل شي.

اوس مهال شاوخوا

۳۰۰

تنه

په بېلابېلو ودانیزو او فني برخو کې په کار بوخت دي

په راتلونکي کې کاري فرصتونه

۵۰۰۰

مستقیم او غیر مستقیم

بېلابېلو برخو کې

ورځنی د تولید وړتیا

۳۳۰۰


ټنه سمنټ

لومړي پړاو کې

ټوله پانګونه

۱۱۳

میلیونه امریکايي ډالر



اړیني ګټې
د ملک د سمنټو د تولید وړتیا لوړول
پر وارداتي سمنټو د تکیې کمول
د کورنۍ وړتیا پیاوړتیا
د اقتصادي وډې او پانګونې ملاتړ
د کاري فرصتونو زیاتول او د خلکو د هوساینې پیاوړتیا



ځای:
کندهار ولایت
شوراندام

د کار له پیله څخه تر دې دمه د افغانستان د هرات ولایت په مربوطاتو کې د تاپي پروژې ټولټال(۱۵۳) یو سل او دري پنځوس کیلو متره نلیکې د رغونې چارو د پرمختګ په اړه لنډ راپور.

۱ د تاپي ګازو نلیکې د ودانیزو چارو په برخه کې پرمختګ:



- د نلیکې لپاره(۱۲۷) یو سل او اوه‌ویشت کیلومتره مسیر چمتو شوی.
- د(۱۰۶) یو سل او شپږ کیلومتره په اوږدوالي سره نلیکه غځول شوې او ویلډینګ شوې.
- د نلیکې د خارنې په موخه(۱۰۸) یو سل او اته کیلومتره سړک جوړ شوی.
- د نلیکې د خښولو لپاره(۷۸) اته‌اویا کیلومتره ځای کېندنه شوې او(۳۶) شپږ دېرش کیلومتره نلیکه تر ځمکې لاندې خښه شوې.
- (۹۸) اته نوي کیلومتره په اوږدوالي نلیکه د پروژې لومړي کمپ ته لېږدول شوې.

۲ د ګازو وېش د شبکې جوړول:





دا مهال له لېوالو افغان شرکتونو سره خبرې روانې دي، چې په هرات ولایت کې د ګازو د وېش شبکې د جوړولو په برخه کې له اسلامي امارت سره په ګډه پانګونه وکړي. په دې برخه کې یو شرکت چمتو شوی، چې شاوخوا(۴۲۰) څلور سوه او شل میلیونه امریکایي ډالره پانګونه وکړي، چې د دې ستر پروژې په بشپړېدو سره به زرګونو وګړو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول کاري فرصتونه برابر شي.



پانګونه
۴۲۰
میلیونه امریکایي ډالر



مستقیم کاري فرصتونه
۳۰۰۰
کسان



غیر مستقیم کاري فرصتونه
۷۰۰۰۰
کسان

۳ اوس مهال په تاپي پروژه کې په کار بوخت افغانان:



دا مهال، په تاپي پروژه کې(۵۹۵) پنځه سوه پنځه نوي تنه افغانان په بېلابېلو امنیتي، اداري او فني برخو کې پر کار بوخت دي، چې له دې ډلې لویه برخه یې د پروژې د امنیت د تأمین په برخه کې ګمارل شوي دي.



په ټوله کې د امنیت د تأمین او نورو برخو کې افغان کارکوونکي:
۵۹۵
کسان

د یتیم تاق
د سمنټو کارخونه



د کورني تولید، کارموندنې او ځانبسیاینې نښه

د کورني تولید پیاوړتیا، د صنعتي پانګونې پراختیا او د ملک اقتصادي ځانبسیاینه د افغانستان اسلامي امارت له اړینو لومړیتوبونو څخه دي. د همدې موخې د څېړنې لپاره د کانونو او پټرولیم وزارت د ملک په بېلابېلو ولایتونو کې د سمنټو د ستر صنعتي پروژو د پلي کېدو په برخه کې ستر ټرونونه لاسلیک کړي دي، چې په بشپړېدو سره به يې د ملک د تولیدي وړتیا کچه لوړه او د سمنټو په برخه کې به افغانستان د ځانبسیاینې پر لور یو اړین ګام واخلي.

د پروژې اړین معلومات

بشپړېدو موده	پانګونه	ورځنی تولید	اوسنۍ کاري بوختیا	راتلونکي کاري فرصتونه
۱۰	۱۵۸	۳۰۰۰	۴۰۰	۴۵۰۰
میاشتې	میلیونه امریکایي ډالر	ټنه سمنټ	تنه	مستقیم او غیر مستقیم ډول

د پروژې اړینې ګټې

- د ملک د سمنټو د تولید وړتیا لوړول.
- پر وارداتي سمنټو د تکیې کمول.
- د کورني تولید، اقتصادي ودې او صنعتي پرمختګ پیاوړتیا.
- د زرګونو وګړو لپاره د کارموندنې فرصتونو برابرول.
- د ملک د زیربنایي پروژو لپاره د سمنټو د اړتیا پوره کول.

د پروژې په اړه

د یتیم تاق د سمنټو د کارخونې تړون له ۷۷ ترکي شرکت سره لاسلیک شوی، چې د دې ستر صنعتي پروژې د پلي کېدو لپاره به(۱۵۸) یو سل او اته پنځوس میلیونه امریکایي ډالره پانګونه وکړي.

دغه صنعتي پروژه به هره ورځ د(۳۰۰۰) درې زره ټنه سمنټو د تولید وړتیا ولري، چې د ملک د کورني تولید په پیاوړتیا او صنعتي ودې کې به اړینه ونډه ولري.

اوس مهال د دغې کارخونې په بېلابېلو ساختماني او فني برخو کې شاوخوا(۴۰۰) څلور سوه تنه پر کار بوخت دي.

ټاکل شوې ده، چې د دې ستر پروژې چارې شاوخوا په لسو میاشتو کې بشپړې شي او له بشپړېدو وروسته به په عملي ډول د سمنټو تولید پیل کړي. د تولید له پیل سره سم به(۴۵۰۰) څلور زره او پنځه سوه کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول کاري فرصتونه برابر شي.



د کورني تولید پیاوړتیا، د اقتصادي ځانبسیاینې بنسټ

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of
Mines and Petroleum

د کانونو او پترولیم د محترم وزیر صاحب پیغام

د افغانستان اسلامي امارت د کانونو او پترولیم وزارت د ملک د اقتصادي پیاورتیا، خان بسیایي او تلپاتي پرمختک له بنسټیزو ستنو څخه ګڼل کیږي. زموږ ژمنتیا دا ده، چې د ملک له کاني شتمنیو څخه د روښتیا او مسلکیتوب په رڼا کې انګیزمنه ګټه واخلو او د پانګوني لپاره دادمن چاپیریال رامنځته کړو ترڅو د کار او تولید فرصتونه پراخه او د ملک اقتصادي بنسټونه لا غښتلي شي.

دا مجله د وزارت د فعالیتونو، لاسته‌راوړنو او راتلونکو برنامو ارزښتناکه هنداره ده، چې د کانونو او پترولیم وزارت د پرمختګونو او پانګوني فرصتونو ترڅنګ، د عامه پوهاوي د لوړولو او کره معلوماتو د خپرولو په برخه کې مهم رول لري.

موږ باور لرو چې د الله تعالی په فضل، د کډو هڅو، ریښتینو مرستو او سالم مدیریت په مټ به د ملک طبیعي زېرمې د اقتصادي ودې، سوکالۍ او روښانه راتلونکي لپاره په یو پیاوړي فرصت بدلې شي.

الحاج ملا هدایت‌الله بدري

د کانونو او پترولیم محترم وزیر صاحب

Mines Magazine



www.momp.gov.af
@MoMPMinistryAFG
MoMPAfghanistan
@MoMP-Afghanistan
Macroryan Square, Kabul, Afghanistan

د کانونو او پترولیم وزارت

د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت